پښتو

د فارسي ژبو لپاره

لیکوال: محمد رحیم درانی

Download From; Aghalibrary.com

د بخښونکي او مهربان خداي په نامه

لومړۍ لوست

د پښتو ژبې توري/حروف زبان پشتو								
ا	ب	پ	ت	ټ	ث	ج	ځ	چ
ح	څ	خ	د	ډ	ذ	ر	ړ	ز
ژ	ږ	س	ش	ښ	ص	ض	ط	ظ
ع	غ	ف	ق	ک	ګ	ل	م	ن
ڼ	و	ه	ء	ي	ى	ئ	ې	ۍ
				ی				

طرز خواندن حروف پشتو

ټ: مثل "ت" ولی با شدت

ځ: مرکب از "ت + ز"

څ: مرکب از "ت + س"

ډ: مثل "د" ولی با شدت مثل d انگلیسی

ړ: مثل "ر" (باید سر زبان را با بالاي دهان چسپانده و همراه با خروج هوا برگردانید).

ږ: مثل "گ" به لهجۀ پشاور و مثل " ژ" به لهجۀ قندهار

ښ: مرکب از "ت + خ" به لهجۀ پشاور و مثل " ش" به لهجۀ قندهار

ګ: همان "گ" فارسی است.

ڼ: مرکب از "ن + ړ" است که صدای آن از دهان و بینی باهم بیرون می آید.

در بارۀ "ی، ي، ى، ئ، ې، ۍ" در درسهاي بعدي توضیح داده شده است

Download From; Aghalibrary.com

دویم لوست

ا ، آ

انار	آس	دا انار دی.	انار خوږ دی.
الله	آدم	الله یو دی.	خداي مهربان دی.
اور	آسمان	دا اور دی.	اور تود دی.

نوي ټکي (الفاظ جدید):

انار: انار آس: اسب اور: آتش دی: است دا: این خوږ: شیرین تود: گرم

مشق

جمله هاي زیر را ترجمه کنید.

۱. این آسمان است.
۲. این آدم است.
۳. این اسب است.
۴. انار شیرین است
۵. آدم مهربان است
۶. اتش داغ است

دریم لوست

ب ، پ

بابا	بازار	دا بابا دی.	دا پاڼه شنه ده
بې بې	بزه	هاغه بې بې ده.	دا بزه سپینه ده
پیښور	پاڼه	دا پیښور دی.	بازار پاک دی.
پوزه	پاک	دغه پوزه ده.	بابا ضعیف دی

نوي ټکي:

بابا: پیرمرد/ پدر بزرگ بې بې: مادر بزرگ پیښور: پشاور پوزه: بینی هاغه: آن
دغه: این بزه: بُز پاڼه: برگ شنه: سبز(مؤنث) سپین: سفید ضعیف: پیر

یادونه:

ي: به این یاء یاي سنگین گفته مي شود که در پشاور بصورت " ی" نوشته می شود.

ې: به این یاء یاي سبک گفته می شود و مثل یاء لین عربی (یاء ساکن ما قبل مفتوح) تلفظ مي شود

ئ، این یاء کشیده خوانده می شود این مخصوص صیغه جمع مخاطب است
ۍ: این یاء علامت مؤنث است (هم در مفرد و هم در جمع)
ی: این یاء مخصوص رسم الخط پشاوري است که براي مفرد بکار می رود ولی در قندهار بجاي این یاء "ي" نوشته می شود.

مشق

جملات زیر را به پشتو ترجمه کنید:

۱. این بز است	۳. آن بازار است	۵. این قم است
۲. آن برگ است	۴. این بینی است	۶. قم مقدس است

څلورم لوست

ت ، ټ/ دلته هلته

چوکۍ	تبر	دلته چوکۍ ده.	دلته تانه ده.
تلاوت	تانه	هلته تبر دی.	هلته ټانګه ده.
ټال	ټانګه	ټال هاغه دی.	دا د قران تلاوت دی.

نوي ټکي:

چوکۍ: صندلی	تانه: پاسگاه پلیس	ټال: تاب	ټانګه: گاری اسب
هلته: آنجا	دلته: اینجا

تذکر: در این درس "ټانګه، تانه، چوکۍ" مؤنث اند. در جاي که لفظ مؤنث باشد لفظ نسبت در فارسی "است" برای مذکر و مؤنث هر دو بکار می رود ولی در پشتو برای مذکر "دی" و برای مؤنث "ده" و برای جمع "دي" بکار می رود. که در تمرین زیر توجه شود.

مشق

ترجمه کنید:

۱. این پاسگاه است	۳. اینجا اسب است	۵. آن صندلي است
۲. انجا تاب است	۴. انجا برگ است	۶. این قرآن است

پینځم لوست

ج ، ح ، څ

کور	څانګه	دا لویه جرګه ده.	دا څانګه شنه ده.
جوار	جارو	هلته جوار دي.	حلوا سپینه ده.
جرګه	میز	جوار پاخه دي	دا څلور میزونه دي.
څپلۍ	څلور	دا یو میز دی.	دا جوار شنه دي.

نوي ټکي:

کور: خانه جوار: زرت جرګه: مجلس شورا ،اجتماع لویه، لوي: بزرگ پاخه: رسیده،پخته یو: یک څپلۍ: کفش څلور: چهار څانګه: شاخ، حصه

یادونه (تذکر):

همانطور که در درس قبل واضح شد با مذکر و مونث بودن یک اسم نسبت و صفاتشان هم مذکر مؤنث می‌شود که در جملات زیر توجه شود.

مشق

جملې جوړې کړئ

۱. اینجا شورای بزرگي است ۳. انجا یک بز است ۵. شاخه بزرگ سبز است

۲. اینجا یک جارو است ۴. این برگ پاک است ۲. چهار میز سفید اینجا است

شپږم لوست

خ ، ځ ، چ

خاوره	خېټه	دا زما خاوره ده.	دا زما ځنځیر دی
خټکی	ځان	دا ستا خټکی دی.	دلته ستا کور دی
ځنځیر	ځناور	دلته شین چمن دی.	دا زما پوزه ده
چمن	چوک	دا د هغه ځنځیر دی.	دا د هغه ځناوران دي.

نوي ټکي:

خاوره: خاک خټکی: طالبی ځنځیر: زنجیر خېټه: شکم ځان:خود

ځناور: حیوان(جمع= ځناوران) چوک: چهار راه شین: سبز زما: مال من ستا: مال شما

د هغه: مال او

یادونه (تذکر):

در این درس از حالت اضافی ضمیر: "زما، ستا، د هغه" استفاده شده که به معاني: مال من، مال شما و مال او می باشد، با استفاده از ان جملات جدید را تمرین کنید.

مشق

جملې جوړې کړئ:

دا	خاوره	
هاغه	خیټه	
دا زما	تختۍ	ده.
دا ستا	جوار	دی.
دا د هغه	ځناور	دي.
دلته	جارو	
هلته	خټکی	

اووم لوست

د ، ډ ، ذ

دوا	دانه	دا زما دانې دي. دا دانې شنې دي
دړد	ډیوه	دا یوه ډیوه ده. ډیوه رڼا لري. دا د هغه ډیوه ده
ډوډۍ	ډېر	ډوډۍ ډېر خوند لري. خټکی هم خوند لري. زما خټکی خوږ دی
ورور	رڼا	ذکي ستا ورور دی او زما ملګری دی.

نوي ټکي:

دوا: دوا دړد: درد ډوډۍ: نان ډېر: خیلی/ زیاد ډیوه/څراغ: چراغ دانه: دانه

(دانې = جمع دانه) لري: دارد ورور:برادر ملګری:دوست

مشق

الف: جملې جوړې کړئ.

۱. انار خیلی مزه دارد.
۲. این چراغ او است.
۳. طالبی من سبز است.
۴. ذاکر دوست شما است.
۵. انجا روشنایی زیاد هست.
۶. انجا یک چهار راه بزرگ است.
۷. درد من زیاد است
۸. برادر تو دوست من است
۹. خانه شما اینجا است

ب: خالي ځایونه ډک کړئ

۱. دا یوه............ده. ۲. دا یو ....دی. ۳. دلته ....دي. ۴. ډیوه.........لري.

۵. هلته ځلور...........دي. ۶. ستا کور ....دی. ۷. هاغه یو..........دی. ۸. دلته ....دي.

اتم لوست

ړ ، ږ ، ښ

زۀ >> مونږ >> زما >> زمونږ ړوند هغه ړوند سړی دی. د هغه ښار نوښار دی

تۀ >> تاسو >>ستا >> ستاسو ښار پېښور زمونږ ښار دی. هلته ډېر کورونه دي.

هغه >> هغوي >>د هغه >> د هغوي ښائسته کندهار يو ښائسته ښار دی. دا ستا ښار دی

غوږ سړی څادر ته دوه غوږونه لرې. دا ستاسو پوزې دي. زه ستا ورور يم.

ږيره لوړ خوښ د هغه ږيره سپينه ده او زما څادر تور دی. هغه سړی خوښحال دی.

تذکر:

سه ضمير به ترتيب "زه،مونږ، ته،تاسو، هغه،هغوي" که معاني ان "من،ما ، تو،شما ، او،آنها" . که حالت هاي اضافی آن بترتيب "زما،زمونږ ، ستا،ستاسو ، د هغه، د هغوي" ميباشند. در جمله هاي زير بايد به اين ضمائر و حالت اضافی آن توجه شود.

نوي ټکي:

زۀ:من مونږ:ما زما: مال من زمونږ: مال ما تۀ: تو تاسو: شما ستا: مال تو ستاسو:مال شما هغه:او د هغه: مال او د هغوي: مال آنها سوړ: سرد ړوند: کور زمونږ: مال ما ښار: شهر ږيره:ريش ښائسته: قشنگ غوږ: گوش سړی: ادم لوړ: بلند

مشق

جملې جوړې کړئ

هغه	زما	ملګری	دی.
هاغه	زمونږ	ورور	ده.
دا	ستا	ښار	دي.
دغه	ستاسو	ډوډۍ	
هلته	د هغه	غوږونه	
دلته	د هغوي	کور	

د لاندې جملو ژباړه وکړئ.

۱. شهر تو قشنگ است. ۲. اين ريش من است. ۳. برادر شما بلند(قد) است. ۴. شهر ما کابل است

۵. گوش من اينجا است. ۶. او آدم کور است. ۷. کابل شهر آنها است. ۸. خانه شما خيلی قشنگ است

نهم لوست

ګ ، ڼ

ګڼل غرونه غرونه پاکه هوا لري. دلته زما کور دی. زهٔ افغانۍ ګڼم.
ګټه پاڼه زه یوه پاڼه لرم. دا پاڼه ډېره سپینه ده. دا د کتاب پاڼه نهٔ ده.
ناروغه کور تهٔ ناروغه يې. تهٔ بايد دوا وخورې. زه هم دوا خورم ځکه چې دوا ډېره ګټه لري.
روغ غنم زه ناروغه نه يم. هغه هم روغ دی، هغه دوه کلو غنم لری او زهٔ يو کلو.

نوي ټکي:
ګڼل: شمارش غرونه: کوهها ګټه: سود/ فائده پاڼه: برګ ناروغه: مريض روغ: تندرست
غنم: ګندم بايد وخورې: بايد بخوری (خوړل مصدر است) ځکه چې:براي اين که
يادونه:
برای ضمير متکلم " زهٔ " (من) نسبت بصورت "يم" (هستم) می آيد. که در در کندهار بصورت "ياستم" هم می آيد. برای مفرد مخاطب " تهٔ " (تو) نسبت بصورت "يې" (هستي) می آيد. که در کندهار بصورت "ياستې" می آيد. و برای غائب " دی" (است) می آيد. و به همين طريق اند ديگر افعال. مثل "لرم، لرې ، لري" و" کوم، کوې، کوي" و "ګڼم، ګڼې، ګڼي" و...

مشق

جملې جوړې کړئ

زهٔ	ناورغه	يم
تهٔ	روغ	يې
هغه	لوړ	دی
سړی	ښه	ده

زهٔ	کار	لرم/ګڼم/کوم/خورم
تهٔ	غنم	لرې/ګڼې/کوې/خورې
هغه	افغانۍ	لري/ګڼي/کوي/خوري
احمد	ورور	

جملې جوړې کړئ:
۱. کتاب من سفيد است، ۲. او خيلي مريض است، ۳. قلم من اينجا نيست، ۴. اينجا يک پاسګاه خيلی بزرګ است.
۵. او ګندم می خورد. ۶. برادر من دوست شما است. ۷ خانه من خانه شما است. ۸. او کار مي کند ، من کار نمی کنم

لسم لوست

پيژنګلو

(لومړی کس)	(دويم کس)
په خير راغلې (ښه راغلست)	خداي دې وبخښه.
ستا څۀ نوم دی؟	زما نوم ګل مخ دی او ستا؟
زما نوم ستار خان دی.	ښه، ستا کور کوم ځاي دی؟
زما کور په بغلان کښې دی.	تۀ څو ورونړه او خويندې لرې؟
زۀ دوه رونړه او يوه خور لرم.	ستا عمر څو کاله دی؟
زۀ لس کاله عمر لرم. (زۀ لس کلن يم)	تۀ څو کلن يې؟

تذکر:

الفاظ استفهاميه که در اين در آمده، عبارت اند از "څۀ (چه)، کوم (کدام)، څو (چند) که بايد به ان توجه شود. و کلمات "په ، کښې" هر دو براى ظرف مى ايند. مثلا: په کور کښې؛ درخانه، په باغ کښې؛ در باغ، په کابل کښې؛ در کابل.

اعداد:

۱ يو	۲ دوه	۳ درې	۴ څلور	۵ پينځۀ
۶ شپږ	۷ اووۀ	۸ اتۀ	۹ نهه	۱۰ لس
۱۱ يوولس	۱۲ دولس	۱۳ ديارلس	۱۴ څوارلس	۱۵ پينځلس
۱۶ شپاړس	۱۷ اوولس	۱۸ اتلس	۱۹ نورلس	۲۰ شل

نوي ټکي:

په خير: به خير　راغلې: آمدي　وبخښه: ببخشد　نوم: نام/ اسم　کوم: کدام　ځاي: جا

ورونړه: جمعِ ورور(برادر)　خويندې: (جمع خور) خواهر　کال: سال　لس کلن: ده ساله

مشق

د جملو ژباړه وکړئ

۱. اسم او چيست؟
۲. من هفده ساله هستم.
۳. خانه من اينجا است
۴. او پنج برادر و سه خواهر دارد.
۵. عمر او چند سال است؟
۶. شما چند سال داری؟
۷. او چند تا برادر خواهر دارد؟
۸. اسم من گل زمان است.
۹. خانه من در قندهار است.
۱۰. من ده افغانی می شمارم.
۱۱. من يک برادر و دو خواهر دارم.
۱۲. خانه او کجا است؟

يوولسم لوست

د بدن غړي

سر	پښې	مخ
غوږونه	سترګې	ويښته
پوزه	خُلۀ	غاښونه
لاسونه	ګوتې	شونډې

زما لاسونه لنډ دي او پښې مې وږدې دي. ستا د مخ رنګ سپين دی.
زه دوه سترګې او دوه غوږونه لرم. زما د ويښتو رنګ تور دی.
ستا ږيره توره ده. زما لاس پينځۀ ګوتې لري. د هغه غاښونه سپين دی.
د هغه غاښونه سپين دي او ستا سترګې تورې دي. زما شونډې ګلابي دي.

ذکر: در این درس صفات مختلف اورده شده از قبیل: سپین، تور، سور، لنډ، وږد. که همه این صفات با مفرد و جمع بودن اسم مفرد و جمع مي شود و همینطور با مذکر و مؤنث بودن اسم مذکر و مؤنث مي شود و همینطور مفرد و جمع لذا در ساخت جمله هاي که داراي صفت هستند دقت نمایید.

نوي ټکي:

سر: سر پښې: پاها غوږونه: گوشها سترگې: چشمها پوزه: بینی خُلهٔ: دهان لاسونه: دستها
گوتې: انگشتها غاښونه: دندان شونډې:لبها لنډ: کوتاه وږد: دراز سپین: سفید تور: سیاه
سور: قرمز گلاپي: رنگ گلاب ویښته:موها ږیره: ریش

مشق

د لاندني جدول په مرسته پینځلس جملې جوړې کړئ.

زما	پښه / پښې	سپین / سپینه / سپینې	
ستا	لاس / لاسونه	سور / سره / سرې	ده
د هغه	سترگه / سترگې	تور / توره / تورې	دی
زمونږ	پوزه / پوزې	وږد / وږده / وږدې	دي
ستاسو	خیټه / خیټې	لنډ / لنډه / لنډې	
د هغوي	شونډه / شونډې	لوي / لویه / لویې	

دولسم لوست

کورنۍ

پلار	مور	زمونږ ډېره لویه کورنۍ ده. زما مور پلار ډېر مهربان دي.
ورور	خور	زه دوه ورونه او یوه خور لرم. خور مې په کابل کښې اوسیږي
ترهٔ / کاکا	ترور	زما ترهٔ په هرمزگان کښې کار کوي او ماما مې په میدان کښې.
زوی	لور	زهٔ څلور زامن او درې لونه لرم، یوه لور مې درې کلنه ده.
هلک	انجلۍ	زمونږ په کور کښې یو باغ هم دی. په باغ کښې دوه هلکان او پینځهٔ انجلۍ دي.
ماما	مامي	زما ماما او مامي په بغلان کښې اوسیږي. ماما مې په تانه کښې کار کوي.
نیکهٔ	نیا	زما نیا مړه شوې ده او نیکهٔ مې ژوندی دی. نیکه مې ناروغه دی.
بابا	بې بې	مور او پلار مې نصیحت کوي چې باید د بابا عزت وکړم.

نوي ټکي

پلار: پدر مور: مادر ورور: برادر خور: خواهر تره: عمو ترور:خاله (پدری ومادري) زوی: پسر
لور: دختر هلک: پسر(Boy) انجلۍ:دختر(Girl) ماما: دایی مامی: زن دایی نیکهٔ: پدر بزرگ
نیا: مادر بزرگ اوسیږي: زندگی میکنند مړه شوې: مرده شده ژوندی: زنده بایدعزت وکړې: تو باید احترام کنید

تذکر: در این درس د جاهاي از ضمیر متصل متکلم واحد "مې" استفاده شده که در فارسی به صورت "م" در اخر کلمه ملحق می شود مثلا: پدرم؛ پلار مې، مادرم؛ مور مې برادرم: ورور مې این ضمیر برای مخاطب به صورت "دې" بمعنی "ات" می اد مثلا: برادرت؛ ورور دې، مادرت؛ مور دې و برای غائب "یې" می آید مثلا: برادرش؛ ورور یې، پدرش؛ پلار یې.

مشق

لاندې جملې ترجمه کړئ:

۱. پدر و مادر شما کجا زندگی می کنند؟
۲. تو باید دایی و زن دایی را احترام کنید.
۳. شما چند تا عمو و خاله دارید؟
۴. رنگ موهای پسر من سیاه است.
۵. دایی انها چند ساله است؟
۶. رنگ دستهای دختر من سفید است.
۷. دختران و پسران دوست من اند.
۸. برادر من در کشور شما زندگی می کند.
۹. پدر بزرگ و مادر بزرگ من در قندهار زندگی می کنند.
۱۰. پدر و مادرم و چند عمویم در یک خانه زندگی میکنیم.
۱۱. پدر و مادر ان دختر در شهر بغلان فوت کرده اند.
۱۲. من شش تا دختر و هشت تا پسر دارم.

دیارلسم لوست

زمونږ کلی

زمونږ کلی په بغلان کښې دی. زمونږ په کلي کښې شنې ونې دي. دلته لوي لوي غرونه دي او شنۀ چمنونه هم شته. دا چمنونه شنۀ دي. په چمن کښې یوه ونه ده. په ونه کښې مچۍ دي. مچۍ چیچل کوي. دلته یو ښایسته باغ دی. دا باغ ډېر لوي دی. په باغ کښې ډېرې لویې ونې دي. په ونو کښې مڼې دي مڼې ډېر خوند لري. په باغ کښې یوه مانۍ هم شته. دا مانۍ ژیړ رنګ لري. په مانۍ کښې زمونږ کالي لکه جامې، کتابونه، څپلۍ، چوکۍ، میزونه، بسترې او نور... دي

یادونه (تذکر):

۱. هر چیزي که ظرف واقع شود و در فارسي براي ان از لفظ "در" استفاده شود در پشتو به این شکل خواهد بود که ظرف را وسط دو کلمه "په" و "کښې" می نویسند. مثل: په چمن کښې ونه ده، په ونه کښې مچۍ دي، در اینجا "چمن" و "ونه" ظرف واقع شده اند و وسطِ "په" و "کښې" آمده اند. از هر دو باهم بمعناي "در" استفاده می شود. و گاهي فقط از "کښې" استفاده می شود مثل "کور کښې" ؛ "درخانه" و وقي می خواهیم بگوییم: "در آن" از لفظ "پکښې" استفاده می کنیم مثل، هلته یو کور دی چې پکښې ډېر خلک دي ؛ آنجا یک خانه است که در آن ادمهاي زیادي اند.

۲. لفظ کښې در پشاور کې خوانده می شود و "ښ" ساکت است. ولې در قندهار و بعضی از لحجه ها "کښې" را کشې تلفظ می کنند که در این صورت "ښ" ساکت نخواهد بود. و همنیطور در مثالهای دیگر هم مثل: "کښیناستل" بمعنای "نشستن" که در پشاور "کیناستل" خوانده می شود و در قندهار "کشیناستل" خوانده می شود.

نوي ټکي:

کلی: روستا /قریه مانۍ: خانه (محل) ژیړ: زرد چمن: چمن/ سبزه ونه: درخت مچۍ:زنبور چیچل: نیش زدن کوي: می کند مڼې:(جمع منه) سیب خوند: مزه جامې: لباس بسترې: بستر

مشق

الف: د لاندینیو جملو ژباړه ولیکئ:

۱. در باغ یک درخت است. ۲. این حلوای گلالۍ است. ۳. خوب کار کردن سود دارد. ۴. انجا دو تا باغ است. ۵. در پشاور لباس زیاد هست. ۶. در باغ زنبور است. ۷. این سیب قرمز است. ۸. زنبور رنگ زرد دارد. ۹. روستای من در

قندهار است. ۱۰. نیش زنبور خیلی درد دارد. ۱۱.کتاب من در خانه شما است. ۱۲. دوست من هفده ساله است و اسم او ایوب است. ۱۳. در شهر او سیب زیاد است. ۱۴. خانواده مجید در هرات زندگی می کنند. ۱۵. خانه شما کجا است
ب: ده جمله بنویسید که درآن ظرف استفاده شده باشد مثلاً: "په قندهار کښې ډېرې ونې دي."

څوارلسم لوست

حمد

نظم	نثر
خداي خالق د ټول جهان دی	خداي د ټول جهان خالق دی
خداي روزونکې د انسان دی	خداي د انسان روزونکې دی
هر څۀ خداي دي پيدا کړي	هر څۀ خداي پيدا کړي دي
ښه او بد يې جلا کړي	ښه او بد يې جلا کړي (دي)
دې واکدار دی د همه و	دې د همه ؤ واکدار دی
کل اختيار دی د همه و	د همه ؤ کل اختيا دی
شريک نه لري يکتا دی	يکتا دی، شريک نه لري
خداي د ټول جهان پاچا دی	خداي د ټول جهان پاچا دی

نوي ټکي:
ټول: همه روزونکې:تربيت کننده هرڅه: هرچيز جلا: جدا دې:اين همه و:همه واکدار: صاحب اختيار
پاچا: بادشاه

مشق

الف: دا شعر زباني زده کړئ.

د جهان دولس امام دي — په حديث کښې نام په نام دي
يو علی دويم حسن دی — بل حسېن پاکيزه تن دی
چهارم زېن العابدين دی — بل باقر ستنه د دين دی
بل جعفر ورپسې هم دی — بل امام موسی کاظم دی
بل امام علی رضا دی — محمد تقی بل بيا دی
بل امام علی نقی دی — بل حسن عسکری دی
بل امام، امام مهدی دی — چې د دُرَسْتْ جهان هادی دی
د بی بی زهرا اولاد دی — پشت په پشت دا هسې ياد دی
پاک سنی هغه آدم دی — چې د آل په عشق محکم دی

الفاظ جديد: ستنه: ستون ورپسې: بعداز او بل: ديگر درست: همه هسې: همينطور
ب: د دې حمد مطلب په خپلو ټکو کښې وليکئ يا د دولسو امامانو په هکله يوه انشاء وليکئ. مثلاً: "په جهان کښې دولس امامان دي چې په حديث کښې ذکر دي. دا ټول د بی بی فاطمه زهرا اولاد دي.

پینځلسم لوست

ښوونځی

زمونږ ښوونځی په کابل ښار کښې دی. ښوونځی د زده کړې ځاي دی. مونږ هره ورځ په خپل وخت ښوونځي ته ځو، هلته سبق زده کوو. زمونږ په ښوونځي کښې ښایسته شین چمن دی او لویې لویې ونې دي د چمن په هر اړخ کښې سره ګلان دي. مونږ ګلان او ښاخونه نۀ ماتوو. زمونږ په ښوونځي کښې د لوبو لپاره دوه میدانونه دي یو میدان د والیبال لپاره او بل د فوټبال لپاره دی. زده کوونکي د تفریح په وخت کښې په دې میدانونو کښې لوبې کوي. مونږ له خپلو همزولو سره لوبې کوو. یو له بل سره جنګ جګړه نۀ کوو. د ښوونکي او د مور پلار خبره منو. او د هغوي درناوې کوو. ښوونکې هم مونږ سره مینه کوي. (طبق درس هجدهم، کلاس چهارم کتاب پشتو افغانستان)

نوي ټکي:

ښوونځی: مدرسه زده کړه: یاد گرفتن ځاي: جا هره ورځ: هر روز وخت: وقت اړخ: طرف
ښاخونه: شاخها ماتول: شکستن لوبې: جمع لوبه، بازي لپاره: براي همزولې: همزلف/ هم عمر
مینه: محبت درناوې: احترام منل: قبول کردن جګړه: جنګ

دیالوګ:

زلمی: ګل زمانه ستاسو ښوونځی کوم ځاي دی؟ ګل زمان: زمونږ ښوونځي په کابل ښار کښې دی.
زلمی: ستاسو ښونځی د لوبو میدان لري؟ ګل زمان: هو، زمونږ ښوونځی دوه د لوبو میدانونه لري.
زلمی: تاسو د تفریح په وخت کښې څه کوئ؟ ګل زمان: مونږ د تفریح په وخت کښې یو بل سره لوبې کوو.

اصلي او مستعار توري

در زبان پشتو بعضي از حروف اصلي اند و بعضي مستعار(ینعی حروفی که از زبان دیگر مثل عربی و غیره گرفته شده اند) در پشتو این حروف بجاي مخارج اصلی شان از نزدیکترین مخرج آن تلفظ می شوند چون این حروف اصلي پشتو نیستند، البته برای قران و کتابهای عربی مخارج ان اموخته می شود. و کسانی که مخرج اصلی حروف مستعار را یاد گرفته اند ان را از مخرج اصلی ان ادا می کنند. حروف مستعار با مخارج نزدیک عبارت اند از:

مستعار	اصلي	مستعار	اصلي	مستعار	اصلي	مستعار	اصلي	مستعار	اصلي
ث	س	ح	خ	ص	س	ض	ز	ط	ت
ظ	ز	ع	ا	ذ	ز	ف	پ	ق	ک

مشق

الف: د نویو ټکو څخه لس جملې جوړې کړئ. لکه: د ونې ښاخونه وړده ده. (شاخهاي درخت دراز اند)

ب: د لاندینو جملو ژباړه وکړئ.

۱. شما کجا زندگی می کنید؟
۲. تو باید با پدر و مادر محبت کنید.
۳. خدا به تمام جهان روزی می دهد.
۴. پدر و مادر با ما محبت می کنند.
۶. مدرسه شما قشنگ است
۷. ما سخن استاد را قبول می کنیم
۸. در روستاي ما هر طرف درختهای سبز هستند.
۹. عموی من در مدرسه استاد است.
۱۱. مدرسه ما دوتا میدان بازي دارد
۱۲. ما در وقت تفریح طالبي مي خوریم

۵. شاخهای درختهای سیب سیاه اند.　　۱۰. دستهای سپید او کوتاه اند.

ج: د خپل ښوونځي په هکله پینځه جملې انشاء ولیکئ.

د: جملې بشپړې (کاملې) کړئ.

۱. زمونږ ښوونځی ....لري.　۲. دا ....دوه میدانونه هم لري.　۳. هغوي په تفریح کښې ....کوي.

۴. ښوونځی د ....ځاي دی.　۵. ښوونکی مونږ سره .... لري.　۶. مونږ باید د .... احترام وکړو.

۷. زما ترور په بغلان کښې..........　۸. امام موسی کاظم .... امام دی.　۹. ستاسو ښار............... دی.

شپاړسم لوست

کور

هر څوک خپل کور سره مینه لري. مونږ هم خپل کور سره ډېره مینه لرو. خپل کور پاک ساتو ځکه چې د کور پاک ساتل ښه کار دی. د کور په کارونه کښې یو له بل سره مرسته کوو. زمونږ په کور کښې ټول پینځه کسان دي. پلار، مور، دوه ورونه او یوه خور. زه سهار خپل ورور سره ښوونځي ته ځم. زما ورور له ما سره مرسته کوي. پلار مې سهار کار ته ځي او ماښام کور ته راځي. مور مې د کور کارونه کوي او زمونږ لپاره ډوډۍ پخوي. د کور ځینې کارونه زما ورور کوي لکه سبزي راوړل، اوبه راوړل او نور داسې کارونه.

نوي ټکي:

کور: خانه　هر څوک: هر کس　ساتل: نگهداشتن　ځکه: زیرا/ چون　یو له بل سره: با یکدیگر

مرسته: کمک　کسان: نفر/ افراد　سهار: صبح　ځي:میرود　راځي: میاید　ماښام: وقت مغرب

ځینې: بعضی　لکه: مثل　راوړل: اوردن　اوبهٔ: آب　نور: دیگر　هسې، داسې: اینطور یا این چنین

مشق

۱. له لاندینیو ټکو څخه جملې جوړې کړئ

راوړل، ماښام، کسان، مرسته، هر څوک، ځکه، یو له بل سره، ډوډۍ، همزولې، نور، اوبه، پخوي

۲. فعلونه صرف کړئ، راوړل، پخول، کول، خوړل، لیکل، تلل

مصدر	فعل حال مفرد متکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفرد غایب	مفرد غایبه	جمع غایب	جمع غایبه
راوړل	راوړم	راوړو	راوړې	راوړئ	راوړي	راوړي	راوړي	راوړي
پخول								
کول								
خوړل								
لیکل								
تلل								

اوولسم لوست

بازار

اخستوونکې: ګرانه وروره! السلام علیکم
خرڅوونکې: و علیکم السلام، په خیر راغلی.
اخستوونکې: وروره غنم کیلو په څو دي؟
خرڅوونکې: یو کیلو په شل روپۍ دي خو که ډېر اخلې تا ته به یې ارزان درکړم.
اخستونکې: پینځه کیلو غنم راکه، مالګه او چیني او غوړي هم لرې؟
خرڅوونکې: هو! مالګه او چیني شته خو غوړي ختم شوي دي.
اخستوونکې: خیر دی لږه مالګه راکړه او دوه کیلو چیني راکړه، خو چیني په څو ده.
خرڅوونکې: چیني خو ګرانه ده، په ۴۰ روپۍ کیلو ده، که لږه اخلې که ډېره.
اخستوونکې: غوړي چېرته ملاوېږي؟
خرڅوونکې: د بازار اخري سر ته لاړ شه. ښي اړخ ته یو دوکان دی چې ګل خان نوم یې دی هغه سره غوړي شته.
اخستونکې: ښه وروره! ټولې څو روپۍ شوې.
خرڅوونکې: ټولې یو سل لس روپۍ کیږي خو ته سل روپۍ راکړه.
اخستونکې: ډېره مننه. د خداي په امان.

نوي ټکي:

اخستونکې: خریدار خرڅوونکې: فروشنده ګران: قیمتی غنم: گندم که: اگر اخلې: می خرید
مالګه: نمک چیني: شکر راکړه: بدهید لږ/لږه: کم غوړي: روغن چېرته: کجا ملاوېږي: یافت
می شود لاړ شه: بروید ښي: راست مننه: ممنون

تذکر

سه کلمهٔ "ور، در ، را" ضمائر متصل اند که در اول فعل براي سه نسبت " او، تو، من" در مثل: ورپسې؛ پشت سراو، راپسې؛ پشت سر من، در پسې؛ پشت سر تو. ورته؛به او، درته؛به تو ، راته؛ به من، ورسره؛همراه او، درسره؛ همراه تو راسره؛ همراه من .... و به همین ترتیب در اول افعال دیگر می آید.

مشق

الف: یو کس خرڅوونکې شئ او یو کس اخستوونکې او دا لوست ولولوئ.
ب: جملې جوړې کړئ

۱. تو شکر داري؟
۲. من به او صدقه دادم و او به من دعا کرد.
۳. بعضی از مردم روغن خیلی کم می خورند.
۴. در باغ ملالۍ پنج تا گل قرمز وجود دارد.
۵. اگر زیاد می خواهی به تو ارزان می دهم.
۶. من خریدار روغن هستم.
۷. در اخر بازار طرف راست خانه ما است.
۸. در کار خانه باید با یکدیگر کمک کنیم.
۹. مدرسه جاي درس است.
۱۰. خدا پرورش کننده همه مردم است.

اتلسم لوست

ځمکه

زما کور په بغلان کښې دی. هلته ډېر باغونه او ځمکې دي. خلک په باغونو کښې بيلا بيلې ميوې کري. او په ځمکو کښې بيلا بيل کشتونه کري. بزګران سهار وختي له کوره راوځي. خپلو ځمکو ته ځي او په هغې کښې کار کوي. په پسرلي کښې هوا ښه وي خو په اوړي کښې ډېره ګرمي وي. کرونګر په ډېر محنت او کوښښ سره کار کوي فصلونو ته اوبه ورکوي او د هغې خيال ساتي. سهار غرمه او ماښام په فصلونو کښې ګرځي. او د هغې نه بې کاره بوټي اوباسي چې ښه فصل وشي. کرونګر له ونو ميوه ټولوي او په بازار کښې يې خرڅوي. او په دې طريقه ژوند تيروي. او د خداي پاک شکر کوي.

نوي ټکي:

ځمکه: زمين خلک: مردم بيلابيل: مختلف کښت: کشت برګران: کشاورزان سهار: صبح وختي: زود
راوځي: بيرون مى ايد ځي: مى رود پسرلي: بهار اوړي: ګرما ساتي: نګهداري مى کند غرمه: ظهر
ګرځي: قدم مى زند بوټي: بوته ها اوباسي: بيرون مى کند ټولوي: جمع مي کند ژوند: زندګى
تيروي: ميګزارد

تذکر:

در پشتو الفاظ کمکي که تا اينجا ذکر شده و در جاهاى مختلف معانى مختلف داده عبارت اند از "په، ته، سره، يې، له" که بايد با خواندن متن پشتو موارد استعمال ان واضح مي شود ولى وقتي بعد از "له" اسم يا فعل بيايد در حالت ارتباطى است و شکل ان عوض مى شود مثلا: له کوره راغلم. له کابله راغلم و...

	اصلي حالت	د اضافي حالت	له .... څخه/ځنې/نه (ارتباطي حالت)	کښې (ظرفي حالت)	فاعلي (متعدي حالت)	پر/په (مفعولي حالت)	ته (مفعولي حالت)	سره (ارتباطي حالت)
مفرد مذکر	سړی	د سړي	له سړي څخه/ځنې/نه	سړي کښې	سړي وخوړه	په سړي	سړي ته	سړي سره
	هغه	د هغهٔ	له هغهٔ څخه/ځنې/نه	هغهٔ کښې	هغهٔ وخوړه	په هغهٔ	هغهٔ ته	هغهٔ سره
	ښوونکی	دښوونکي	لهښوونکي څخه/ځنې/نه	ښوونکي کښې	ښوونکي وخوړه	پهښوونکي	ښوونکي ته	ښوونکي سره
جمع مذکر	سړي	د سړيو	له سړيو څخه/ځنې/نه	سړيو کښې	سړيو وخوړه	په سړيو	سړيو ته	سړيو سره
	غرونه	د غرونو	له غرونو څخه/ځنې/نه	غرونو کښې	غرونو وخوړه	په غرونو	غرونو ته	غرونو سره
	هغوي	د هغو	له هغو څخه/ځنې/نه	هغو کښې	هغو وخوړه	په هغو	هغو ته	هغو سره
مفرد مونث	ښځه	د ښځې	له ښځې څخه/ځنې/نه	ښځې کښې	ښځې وخوړه	په ښځې	ښځې ته	ښځې سره
	ځمکه	د ځمکې	له ځمکې څخه/ځنې/نه	ځمکې کښې	ځمکې وخوړه	په ځمکې	ځمکې ته	ځمکې سره
	هغه	د هغې	له هغې څخه/ځنې/نه	هغې کښې	هغې وخوړه	په هغې	هغې ته	هغې سره
جمع مونث	ښځې	د ښځيو	له ښځيو څخه/ځنې/نه	ښځيو کښې	ښځيو وخوړه	په ښځيو	ښځيو ته	ښځيو سره
	ونې	د ونو	له ونو څخه/ځنې/نه	ونو کښې	ونو وخوړه	په ونو	ونو ته	ونو سره
	هغوي	د هغوي	له هغوي څخه/ځنې/نه	هغوي کښې	هغوي وخوړه	په هغوي	هغوي ته	هغوي سره

الف: د لاندې جملو ژباړه وکړئ

۱. ما صبح و شام در اينجا هستيم. ۵. کشاورز در اخر سال ميوه جمع مى کند.

۲. در روستاى ما زمينها و باغهاى زيادي است. ۲. ظهر شما چه کار مى کنى؟ ۹. در بهار ګلهاى مختلف پيدا مى شود.

۳. هوای روستا خوب است. ۷. او سیبهای خود را می فروشد. ۱۰. زندگی ما خوب می گزرد.
۴. در جلال اباد در گرما گرمای زیادی است. ۸. من لباس خود را تمیز نگه میدارم.

نولسم لوست

پیشو او موږک

یوه ورځ پیشو په لاره کښې د یوۀ موږک سره ملګرې شوه، دواړه یوۀ کلي ته تلل. پیشو موږک ته وویل: " تۀ مخکښې ځه، زۀ به درپسې درځم". موږک ورته وویل: " تۀ مشره یې او زۀ کشر یم، زۀ ستا نه مخکښې نۀ ځم". پیشو بیا موږک ته وویل: "نه، نه په کار دا دي چې تۀ مخکښې ځه او زۀ به درپسې درځم". موږک د پیشو خبره ومنله، مخکښې شو، پیشو ورپسې شوه او په لاره تلل. موږک پیشو ته وویل: ځوک چې کوم ځاي ته سره ملګري ځي نو په لاره کښې یو له بل سره خبرې کوي. ځکه چې هم یې ساعت تېر شي او هم پرې لاره لنډه شي، نو زۀ او تۀ به هم په لاره ځو او هم به یو له بل سره خبرې کوو. پیشو ورته وویل: "ډېر ښه وایې، تۀ خبرې کوه او زۀ به درته ښه ښه کوم چې ستا وار تېر شي نو بیا به زۀ خبرې کوم او تۀ به راته ښه ښه کوې.
لومړۍ موږک په خبرو پیل وکړ، څه لاره چې یې ووهله، موږک په خبرو کښې تود شو، نو پیشو پرې ورټوپ کړ، او ویې خوړ.

نوي ټکي:

پیشو: ګربه موږک: موش لاره: راه سره: با/باهم دواړه: هردو وویل: ګفت تلل:میرفتند مخکښې: جلو ځه: برو درپسې: پشت سر شما مشر:بزګسال کشر:کوچک/کم عمر بیا: دوباره په کار دي: باید خبره: سخن ومنله: قبول کرد یو له بل سره: با یکدیګر ځکه: چون تېر شي: میګزرد وار: نوبت پیل وکړ: شروع کرد څۀ: کمی ووهله: زدند/ طی کردند تود: ګرم ټوپ کړ: پرید

مشق

۱. له تېر شوي سبقونو څخه ټول هغه ټکي چې پکښې ور، در او را استعمالیدې شي ولیکئ او جملې ترې جوړې کړئ.
۲. د لاندیو ټکو په مرستې لس جملې جوړې کړئ.
لاره ، سره ، دواړه ، مشر ، خبره ، پیل وکړ ، ځکه ، یو له بل سره، وار، په کار دي
۳. د لاندنیو پوښتنو ځوابونه ولیکئ.
۱: پیشو او موږک چیرته تلل؟ ۲: پیشو څۀ وویل؟ ۳. موږک څۀ وویل؟ ۴: په پاي کې پیشو څۀ وکړل؟

شلم لوست

کوښښ/کوشش

هر ځوک باید هڅه او کوښښ وکړي ځکه چې بې هڅې ژوند ګټه نه لري. زۀ پوهیږم چې تاسو په خپلو درسونو کښې کوښښ او هلې ځلې کړې دي چې دویم ټولګي ته بریالي شوي یاست، پروسږکال چې اکرم په خپلو درسونو کښې کوښښ کاوه نو لومړۍ درجه بریالې شو او اسلم چې زیار ونه ویست (هڅه ونه کړه) ناکام شو او ډېر خفه ؤ، نو تاسو باید په خپلو درسونو کښې کوښښ وکړئ او زیار وباسئ چې ناکام نه شئ.

بې زحمتــه عزت نشتــه زما وروره
که عزت غواړې زحمت درلره بویه

نوي ټکي:

هڅه: هلې ځلې/کوښښ/کوشش وکړې: بکند ژوند: زندگی پوهیږم: می فهمم خپل درسونه: درسهای خود ټولګی: کلاس/جماعت بریالی: کامیاب پروسږکال: پارسال زیار باستل: کوشش کردن خفه: ناخوش غواړې: می خواهی بویه: لازم

تذکر

۱. نوم درې حالتونه لري

		اصلي حالت	ارتباطي او فاعلي حالت	ندايي حالت
مذکر	مفرد	سړی	د سړي کور/ سړي ډوډۍ وخوړه	اي سړیه
	جمع	سړي	د سړیو کور/ سړیو ډوډۍ وخوړه	اي سړيو
مونث	مفرد	ښځه	د ښځې خاوند/ ښځې ډوډۍ وخوړه	اي ښځې
	جمع	ښځې	د ښځیو زامن/ ښځیو ډوډۍ وخوړه	اي ښځیو

۲. در حالت ندايي اگر در اخر يک اسم "ا، و ، ي" بيايد در چنين حالت در صورت ندايي تغيير پيدا نمي کند مثل: ذکريا، محمدي، خارو و... مثل: اي محمدي، اي خارو، اي ذکريا و مثالهاي ديگر ولې بعضي از اسماء مؤنث هم در حالت ندا تغيير پيدا نمي کند مثل: زينب، عترت، نصرت، عشرت.

۳. د حالت ارتباطي هم اسم تبديل می کند چنانچه قبلاً تفصيلا ذکر شد.

مشق

الف: د لاندنیو پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. مونږ ولې باید هڅه او کوښښ وکړو؟ ۲. اکرم څۀ وکړل؟ ۳. اسلم ولې خفه ؤ؟ ۴. مونږ ته څۀ په کار دي؟

ب: د لاندنیو جملو ژباړه وکړئ:

۱. در خانه ان مردها يک درخت بزرگي است. ۲. در شهر قم زندگی سود زيادی دارد. ۳. شما بايد در درسهای خود زياد کوشش کنيد تا ناکام نه شويد. ۴. من در کلاس دوم هستم. ۵.فرزندان خانمها اينجا هستند. ۶. شوهر ان زن فوت کرده است. ۷. ای مرد! شما کجا زندگی می کنيد؟ ۸. او و پدرش به شهر پشاور می رفتند. ۹. بايد با يکديگر به زبان پشتو صحبت کنيد. ۱۰. در دست ان زن چيست؟

پښتو

دویمه برخه

د فارسي ژبو لپاره

لیکوال: محمدرحیم درانی

لومړی لوست

حمد

زۀ بنده یم تۀ مولا | تۀ بادشاه یې زۀ ګدا
تۀ خالق یې زۀ مخلوق یم | تۀ اعلی یې زۀ ادنی
بادشاهان کۀ امیران دي | ستا د در دي فقراء
څوک لائق د ثنا نشته | تۀ لائق یې د ثنا
تۀ مې مل شې اي خالقه | ډېر خراب دی حال زما

نوي ټکي:

یې: هستي/ را کۀ: اګر/ اګرچه څوک: کسی/ کی مل: همراه / ملګرې

ګرامر:

د کلمې ډولونه:

۱. نوم: (اسم) د یو ځاي یا د یو شخص څرګندونه کوي.
۲. ضمیر: هغه کلمه چې د نوم ځاي ونیسي. لکه: زۀ، تۀ، هغه
۳. صفت: هغه کلمه چې د یو نوم حالت او څرنګوالې بیانوي. لکه: ښه سړی، تور قلم
۴. فعل: هغه کلمه چې د زمانې په دخالت سره یوه مستقله معنی ولري.
۵. قیدونه: هغه کلمه چې په نوم، فعل، صفت یا ضمیر باندې یو قید ورزیاتوي او معنی یې مقید کوي لکه ډېر هوښیار.
۶. ادات: هغه کلمه چې په مستقله توګه معنی نلري بلکه له فعلونو او نومونو څخه د یوې معنا د افاده کولو لپاره استعمالیږي. لکه: "له" " تۀ" په دې مثال کښې " له کوره راغلم، کور ته ځم".

مشق

۱. د دې شعر نثر ولیکئ.
۲. له دې حمد څخه نوم، فعل، ضمیر، صفت، قید او ادات ولیکئ.

دویم لوست

ښوونکې

ښوونکې زمونږ لارښوونکې دی. هغه موږ ته د لیک لوست ښوونه کوي. ښوونکې مونږ ته سمه لاره ښيي. ښوونکې په ډېره مینه زمونږ کورني کارونه سموي. که مور او پلار زمونږ بدن روزي ښوونکې مونږ ته پوهه راښيي. له دې امله مونږ د ښووکي درناوې کوو او د مور او پلار په څیر یې د درناوي وړ ګڼو.

نوي ټکي:

ښوونکې: استاد لارښوونکې: راهنما لیک: نوشتن/ نوشته شده لوست:درس/خوانده شده سمه: درست ښيي: نشان می دهد مینه: محبت روزي: تربیت می کنند پوهه: فهم له دې امله: به سبب این درناوې : عزت څېر: مثل وړ: قابل ګڼو: میشماریم /میدانیم/ حساب می کنیم.

ګرائمر:

د جوړخت او پاي له مخې د پښتو د مصدرونو ډولونه:

۱ . لام والا مصدرونه ۲ . ول والا مصدرونه ۳. یدل والا وصدرونه ۴. کول والا مصدرونه

۵. کیدل والا مصدرونه (چې هر یو مصدر په دوه ډوله دی. دوه توکیز، یو توکیز چې هر یو په ترتیب سره بیانیږي) (دې خبرې ته دې ډېر فکر وشي چې کیدل والا مصدرونه مجهول لپاره او لام والا، ول والا او کول مصدرونه د معلوم لپاره راځي: لکه: کار کیدل (کار شدن) کار کول (کار کردن) او له نورو مصدرونو څخه د مجهول جوړیدو خپله لاره ده چې وړاندې بیانیګي انشاءالله.)

۱ . لام والا مصدرونه: هغه دي چې یوازې په "ل" پاي ته رسیدلي وي، یعنې د مصدر ننبه پکښې "ل" وي، دا مصدرونه په دوه ډوله دي:

الف: دوه توکیز: هغه دي چې له دوه توکیو څخه جوړ وي او توکي یې د جلا کیدو وړ نه وي.

ب: غیر دوه توکیز هغه دي چې په اصل کښې مصدر ګڼل شوې وي او د تجزیې وړ نه وي.

شمېره	الف.دوه توکیز			ب: غیر دوه توکیز	
۱	پورې وتل	پورې + وتل	آن طرف رفتن	وهل	زدن
۲	پرې وتل	پرې + وتل	زمین خوردن/افتادن	تلل	رفتن
۳	څملاستل	څم + لاستل	خوابیدن/دراز کشیدن	پالل	نګهداری کردن
۴	بوتلل	بو + تلل	بُردن(برای شي که خودر راه می رود)	خوړل	خوردن
۵	پریښودل	پرې + ښودل	رها کردن	غوښتل	خواستن
۲	پرانیستل	پرا + نیستل	باز کردن	موندل	یافتن

۲. **ول والا مصدرونه:** هغه دي چې يوازې په "ول" پاي ته رسيدلي وي، يعنې د مصدر نښه پکښې "ول" وي، دا مصدرونه په دوه ډوله دي:

الف: هغه چې لومړنې توکې يو بې معنا لفظ وي لکه: ګرځول، چې يوازې "کرځ" څه معنا نه لري.

ب: هغه چې لومړنې توکې يو معنا لروونکې لفظ وي لکه: تورول، چې تور يوازې معنا لري.

شمېره	الف		ب	
۱	تښتول	بزور بردن/ فراری دادن	سپينول	پوست کندن
۲	غورځول	انداختن	مړَوَلْ	کُشتن
۳	ګرځول	گرداندن	جنګول	جنگاندن
۴	خندول	خنداندن	ماتول	شکستن
۵	ژړول	به گريه در اوردن	زغلول	دواندن

مشق

۱. د لاندې ګراف په مرستې سره لس جملې جوړې کړئ.

نوم / ضمير	صفت/ عدد	نوم	فعل
زهٔ	شين/ شنه/ شنې	ختکی/ ختکي	لري
تهٔ	يو/ يوه	خور/ خويندې	لرم
هغه	تور/ توره/ تورې	ورور/ وروڼه	لرئ
مونږ	مشر/مشره/مشرې/مشران	موږک / موږکان	لري
تاسو	کشر/ کشره/ کشرې/کشران	ترهٔ / ترونه	لرو
هغوي	پينځهٔ	پيشو/ پيشوګانې	لرې

۲. د ښوونکي په حقله شپږ جلمې وليکئ.

دريم لوست

مسافر

اسلم: په خير راغلې.

کريم: خداي دې وبخښه.

اسلم: ته څوک يې؟

کريم: زما نوم کريم ګل دی.

اسلم: دلته څه کوې؟

کريم: دلته کار لرم، دا راته ووايه چې دلته مسافرخانه شته؟

اسلم: هو! دلته ډېرې سراې شته دي؟ خو ته کومې سراې ته تلل غواړې؟

کريم: داسې سراې راوښيه چې ښه ، ارزانه او نږدې وي.

اسلم: چې لږ مخکښې لاړ شې یو چوک دی په چوک کښې ښې اړخ ته یو سراې شته.
کریم: د سراې نوم راوښیه چې غلطه راڅخه نه شي.
اسلم: راځه! زهٔ هم هغې اړخ ته ځم تاسو ته به سراې هم وښیم او خپل کار به هم وکړم.
(هغوي په لاره تلل او یو له بل سره یې خبرې کولې)
کریم: ډېره مننه، ستا نوم څهٔ دی او څهٔ کار کوې؟
اسلم: زما نوم اسلم خان دی او د ماشومانو په ښوونځي کښې ښوونکې یم.
کریم: دا خو ډېره ښه خبره ده خداې پاک دې بریالې لره.
اسلم: ته له کوم ځاې څخه راغلې یې؟
کریم: زه له کابله راغلی یم، کور مې په کندهار کښې دی خو په کابل کښې کار کوم.
اسلم: راځه وروره! نن ما سره شپه تېره کړه سبا به خپل کار وکړې.
کریم: نه وروره! په سر دې خیر وي
اسلم: ښه کریمه وروره! دغه سراې ده، زهٔ ځم، په مخه دې ښه.
کریم: د خداې په امان.(خداې دې مل وي)

نوي ټکي:

دې: تو (ضمیر متصل) / حرف ربطی نږدې: نزدیک لږ: کمی څخه: از/ با ښې: راست اړخ: طرف
مننه: تشکر ښوونځي: مدرسه لره: (مصدر ان لرل: داشتن) دارد راځه: بیا نن: امروز ما سره: بامن
شپه: شب سبا: فردا مخه: پیش روی تو

ګرائمر:

۳. یدل والا مصدرونه: هغه دي چې یوازې په "یدل" پاي ته رسیدلي وي، یعنې د مصدر ښه پکښې "یدل" وي، دا مصدرونه په دوه ډوله دي:
الف: هغه چې لومړنې توکې یو بې معنا لفظ وي لکه: ګرځیدل (قدم زدن/ گشتن)
ب: هغه چې لومړنې توکې یو معنا لرونکې لفظ وي (نوم یا صفت وي) لکه توریدل، جنګیدل.

شمېره	الف		ب		
۱	تښتیدل	فرار کردن	سپینیدل	سپین + یدل	پوست کنده شدن
۲	غورځیدل	افتادن	مړَیدلْ	مړ + یدل	کشته شدن
۳	خندیدل	خندیدن	جنګیدل	جنګ + یدل	جنگیدن
۴	ګرځیدل	گشتن/ قدم زدن	ماتیدل	مات + یدل	شکسته شدن
5	ژړیدل	گریه کردن	زغلیدل	زغل + یدل	دویدن/ فرادکردن

مشق

۱. لاندني ټکي په جملو کښې استعمال کړئ

منه، ماسره، ورځ، پينځه، لړ، نن، سبا، اړخ، مينه ، مخه .

۲. د لاندنيو پوښتنو ځوابونه وليکئ.

کريم له کوم ځاي څخه راغلې ؤ.؟ اسلم څه کار کاوه؟ سراې کوم ځاي کښې وه؟

څلورم لوست

د اوونۍ ورځې او وختونه

يوه اوونۍ اووه ورځې لري. نن د خالي ورځ ده، سبا اتوار دی، بل سبا به د ګل ورځ وي او لابله ورځ به نهې وي. پرون جمعه وه بل پرون زيارت ؤ او د هغې نه مخکښې د شورو ورځ وه. د زيارت په ورځ خلک زيارتونو ته ځي د جمعې په ورځ د ښونځي چتي (تعطيل) وي نو د ځان صفايي کوي او د جمعې مانځه ته ځي. د خالي په ورځ ښونځي بيا خلاصيږي د اتبار په ورځ په انګريزي هيوادونو کښې چتي وي. د شورو په ورځ نوي کار شورو کول ښه دي. نن مونږ سبق زده کوو او سبا به د دې سبق پوښتنو ته ځوابونه ورکوو ځکه چې زمونږ ښوونکې وايي: "د نن کار سبا ته مهٔ پريږدئ". د ګل په ورځ به خپل سبق لولو ځکه چې د نهې په ورځ زمونږ ازموينه پيل کيږي. خداي پاک دې وکړي چې ټول پکښې بريالي شو.

خالي	اتبار	ګل	نهې	شورو	زيارت	جمعه
شنبه	يکشنبه	دوشنبه	سه شنبه	چهارشنبه	پنجشنبه	جمعه

بل پرون	پرون	نن	سبا	بل سبا	لا بله ورځ
پريروز	ديروز	امروز	فردا	پس فردا	فرداي پس فردا

اوونۍ: هفته هيواد: کشور چتي: تعطيل ازموينه: امتحان خلک: مردم زيارتونه: زيارات لولو: می خوانيم/ مطالعه می کنيم ورکول: به انها دادن ټول: همه پريږدول: رها کردن

ګرائمر:

۴. کول والا مصدرونه: هغه دي چې په پاي کښې يې د کول په يوځاي کولو سره يوه بله کلمه جوړه شوې وي، دا مصدرونه په دوه ډوله دي:

الف: هغه دی چې لومړنې جز يې د مفهوم له مخې له کول سره يو او د فعل غوندې ګرځي او جلا مفعول وغواړي. لکه: پورته + کول (پورته کول) بلند کردن. لکه سر پورته کول.

ب: هغه دي چې د معنې له مخې له کول سره يو نه شي او خپله د کول مفعول واقع شي. لکه کرکول، غوبل کول. چې غوبل د کول مفعول دی. او اکثرا لومړی توکې يې يو استعماليدونکې کلمه وي.

شمېره	الف		ب		
۱	پخلا کول	راضي کردن	کر کول	کر+ کول	کاشتن
۲	پرې کول	پاره کردن	واښه کول	واښه+ کول	سبزه چيدن/کردن
۳	پورې کول	ان ور بردن	زياتې کول	زياتې + کول	زيادتي کردن

۴	پورته کول	بالا بردن	ظلم کول	ظلم + کول	ظلم کردن

مشق

د لاندنيو جملو ژباړه وکړئ.

۱. من او را راضی می کنم. ۲. او صندلی را بالا می برد. ۳. او بر شما ظلم می کند. ۴. کشور من افغانستان کوههای زیادی دارد. ۵. دنیا جای امتحان است. ۶. کار امروز به فردا نگذارید. ۷. شنبه امتحان ما خواهد بود. ۸. پس فردا برادر و دایي من از هرات می ایند. ۹. تو از کدام کشور امده ای.

ج: لاندیني مصدرونه د جدول په مرستې سره صرف کړئ.

شمېره	ضميرونه	مصدرونه			
۱	زهٔ	پورته کوم	خاندوم	جنګوم	ماتوم
۲	مونږ				
۳	تهٔ				
۴	تاسو				
۵	هغه				
۶	هغوي				

ب: له لاندنيو ټکو څخه جملې جوړې کړئ.

خالي، اتبار، ګل، نهې، شورو، زيارت، جمعه، نن، سبا، پرون، پس فردا، پرى روز.

پينځم لوست

مياشتې

په يو کال کښې دولس مياشتې وي. لومړۍ مياشت د امامانو مياشت ده. په دې مياشتې کښې د پيغمبر(ص) ګران نمسې امام حسين(ع) په کربلا کښې شهيد شوې ؤ. ورپسې د سپړې مياشت ده چې ورته د چورې مياشت هم وايي ځکه چې خلک په دې مياشتې کښې چورې جوړوي او خوري. بيا ورپسې په ترتيب سره لومړۍ خور، دويمه خور، دريمه خور او څلورمه خور دي. بيا ورپسې زبرګه مياشت ده چې ورته د خداي مياشت هم ويل کيږي ځکه چې پکښې خلک ډېر عبادتونه کوي. بيا ورپسې د برات مياشت ده چې دې ته شوقدر او د پينځلسمې مياشت هم ويل کيږي. بيا ورپسې د روژې مياشت ده چې له روژې وروسته د وړوکي اختر مياشت ده او بيا ورپسې ميانه ده، يعنې د دوو اخترونو تر مينځ دا مياشت ميانه ده. او په اخر کښې د لوي اختر مياشته راځي.

نوي ټکي:

مياشتې: ماهها(جمع مياشته) نمسې: نواده چورې: يک چيز خودني که از ارد درست می شود.

ويل کيږي: گفته می شود. روژه: روزه وړوکې: کوچک اختر: عيد مينځ: وسط/ درميان

امامان/حسنیان	سپره	لومړۍ خور	دویمه خور	دریمه خور	څلورمه خور
محرم	صفر	ربیع الاول	ربیع الثانی	جمادی الاول	جمادیالثانی
زبرګه/بزرګه	برات/شوقدر	روژه	وړوکې اختر	میانه	لوي اختر
رجب	شعبان	رمضان	شوال	ذیلقعده	ذیلحجه

حمل	ثور	جوزا	سرطان	اسد	سنبله
وری	غویی	غبرګولی	چنګاښ	زمری	وږی
میزان	عقرب	قوس	جدی	دلو	حوت
تله	لړم	لیندۍ	مرغوی	سلواغه	کب

ګرائمر:

۵. کیدل والا مصدرونه: هغه دي چې په پاي کښې يې "کيدل" راغلې وي، يعنې د مصدر ښه پکښې "کيدل" وي، دا مصدرونه په دوه ډوله دي:

که چېرې په ټولو "کول والا" مصدرونو د "کول" پر ځاي "کيدل" راوړل شي له لومړي ډول نه يې لومړۍ ډول "کيدل والا مصدرونه" او له دويم ډول نه يې دويم ډول "کيدل والا" مصدرونه په لاس راځي. "کيدل والا" مصدرونه هم ټول ترکيبي مصدرونه دي، مثالونه يې په دا ډول دي:

شمېره	الف		ب		
۱	پخلا کيدل	راضي شدن	کر کيدل	کر+ کيدل	کاشته شدن
۲	پرې کيدل	پاره شدن	وابنه کيدل	وابنه+ کيدل	سبزه چيده شدن
۳	پورې کيدل	ان ور رفتن	زياتې کيدل	زياتې + کيدل	زيادتي شدن
۴	پورته کيدل	بالا شدن	ظلم کيدل	ظلم + کيدل	ظلم شدن

مشق

الف: د لاندنيو جملو ژباړه وکړئ

۱. کار گل خان در ماه محرم شروع شد. ۲. در ماه صفر از نان چوري می سازند. ۳. باغ بختور خان اينجا است. ۴. راضی شدن احمد گل در ماه شعبان بود. ۵. آنجا دو تا بچه نواده من هستند. ۶. شهر ښاپسته خان در ماه ربيع الثانی بنا شد. ۷. دو ماه بعد ماه رمضان شروع می شود. ۸. به اين مهمانسرا هتل هم گفته می شود. ۹. درميان ديروز و فردا امروز شنبه است. ۱۰. پريروز ماه ربيع الثاني تمام شد.

ب: لس داسې جلمې وليکئ چې په هغې کښې د لسو مياشتو نومونه استعمال شوې وي.

شپږم لوست

موسمونه/ فصلونه

پسرلی د کال لومړنی فصل دی. په دې فصل کښې هوا ښه وي. د غرو لمنې او دښتې په رنګارنګ ګلانو ښایسته او ښکلې وي. بلبلې په باغونو کښې چغیږي. مرغان ځالې جوړوي، کوچیان شنو دښتو او د غرو لمنو ته ځي. کروندګر په خپلو ځمکو او باغونو کښې کارونه کوي. زده کوونکي د خپلو زده کړو لپاره ښوونځي ته ځي. دویم فصل اوړی دی چې دې ته دوبې او د ګرمي هم ویل کیږي. چې پکښې ډېره ګرمي وي. دریم فصل منی دی. چې ځینې خلک ورته خزان هم وایي. په دې فصل کښې د ونو پاڼې ژیړې وي. بیا وروسته د ژمی وار دی چې پکښې هوا ډېره زیاته سړه وي. واوره وریږي او خلک د ځان ګرمولو لپاره اور بلوي. نو په دې طریقه په یو کال کښې څلور فصلونه تیریږي. چې هر یو فصل ځانله جلا جلا خوند لري. او پکښې بیلا بیلې میوې پیدا کیږي.

نوي ټکي:

پسرلی: بهار لمن: دامن دښته: صحرا ښکلې: ښایسته بلبله: بلبل چغیږي: صدا میدهد مرغان: پرندها ځاله: آشیانه کوچیان: خانه بدوش کروندګر: کشاوز ځمکه: زمین اوړی/دوبې: تابستان منی:خزان ځینې: بعضی ژمی: زمستان واوره: برف وریږي: میبارد

ګرائمر:

۱. په پښتو کښې د عربي او نورو ژبو له مصدرونو څخه د(ول، یدل، کول، کیدل) په یو ځای کولو مرکب مصدرونه جوړیږي خو جوړښت یې د پښتو ژبې د قوانینو تابع دی، یعني هغه نومونه چې په صحیح توري پای ته رسیدلي وي زیاتره د (ول، یدل) په یوځای کولو او هغه چې په (الف، ه، ی، ع ، ح) پای ته رسیدلې وي د "کول،کیدل" په یوځای سره مصدرونه جوړیږي:

معلوم	معلومول	معلومیدل	التجاء	التجاءکول	التجاء کیدل
قبول	قبلول	قبولیدل	اصلاح	اصلاح کول	اصلاح کیدل
استعمال	استعمالول	استعمالیدل	دعا	دعا کول	دعا کیدل
ظاهر	ظاهرول	ظاهریدل	مناظره	مناظره کول	مناظره کیدل
صبر	صبرول	صبریدل	افتتاح	افتتاح کول	افتتاح کیدل

۲. ځینې ټکي داسې هم شته چې د دې قاعدې پر خلاف هم راتلی شي. لکه ظلم، چې ظلم کول او ظلم کیدل سره جوړیږي. او د "ظلمیدل" او "ظلمول" استعمالول غلط دي.

۳. په پښتو ژبه کښې ټول مصدرونه د جمع مذکر په توګه استعمالیږي. یعنې که د هغه لپاره صفت یا نور داسې څه شي راوړل کیږي نو هغه د جمع مذکر په توګه وي. لکه قبلول ښه دي. ستا صبر کول بد دي.

مشق

الف: د لاندنیو پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. په کوم موسم کښې مرغان ځالې جوړوي؟ ۲. په ژمي کښې هوا څنګه وي او خلک پکښې څه کوي؟

۳. د اوړي نور نومونه ولکئ؟ ۴. په مني کښې ونې څنګه وي؟
ب: د څلورو موسمونو په هکله څلور جملې وليکئ.

اووم لوست

کسب او کار

کسبګر د خداي دوست دی. په دنيا کښې ډول، ډول کسبونه شته لکه ترکاڼي، بزګري، پښتوب، سوداګري، زرګري، کولالي او داسې نور. د کسب زده کړه يوه داسې خزانه ده چې هيڅ کله نه خلاصيږي او نه يې غل وړې شي. کسبګر د خپل کسب په وسيله حلاله روزي پيدا کوي. هر چيرته چې لاړ شي، کار ورته پيدا کيږي، له همدې امله پر خپل ژوند خوشاله وي.
داؤد عليه السلام سره له دې چې د خداي له خوا پيغمبر ؤ، د پښتوب کسب يې هم کاوه. د جنګ لپاره به يې د زغرو جامې جوړولې. هغه به يې بازار ته وړلې او له دې لارې څخه به يې حلاله روزي لاس ته راوړله.

نوي ټکي:

کسب: کار کسبګر: کسي که يک کار(فن) بلد باشد. ډول ډول: قسم قسم ترکاڼي:نجاری بزګري: کشاورزي پښتوب: آهنگری سوداګري: تجارت زرګري: طلا فروشي کولالي: ظرفها گلي درست کردن هيڅ کله: هيچ وقت غل: دزد وړل: بردن چيرته: جای که سره له دې: با اينکه خوا: طرف زغره: زره.

ګرائمر:

په پښتو کښې ماضي په نهه ډوله ويشل کيږي:
۱. استمراري ماضي، ۲.مطلقه ماضي، ۳. نژدې ماضي، ۴. لرې ماضي، ۵. امکاني استمراري ماضي، ۶. مطلقه امکاني ماضي، ۷. احتمالي ماضي، ۸. تمنايي ماضي، ۹. تاکيدي ماضي.
۱. د استمراري ماضي د جوړولو لار: داسې جوړيږي چې د ټولو لام والا مصدرونو (افعال معلوم) په پاي کښې يې متصل فعلي ضميرونه ورزيات کړې لکه: له راتلل او پخلا کول مصدرونو څخه لاندني مثالونه

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غايب	جمع مذکر غايب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
راتلم	راتلو	راتلې	راتلئ	راته/راتلو	راتلل	راتله	راتلې
پخلا کولم	پخلا کولو	پخلا کولې	پخلا کولئ	پخلا کاوۀ	پخلا کول	پخلا کوله	پخلا کولې
بوتلم	بوتلو	بوتلې	بوتلئ	بوته/بوتلو	بوتلل	بوتله	بوتلې

او حکمي متعدي مصدرونو څخه داسې جوړيږي چې فقط مصدر سره مخکښې ضمير منفصل په يوځاي کولو سره جوړيږي او نور څه بدلون پکښې نه راځي. لکه: "ويل"، چې "ما ويل، تا ويل" او نور:

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غايب	جمع مذکر غايب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
ما ويل	مونږ ويل	تا ويل	تاسو ويل	هغه ويل	هغوي ويل	هغې ويل	هغوي ويل
ميگفتم	ميگفتيم	ميگفتی	ميگفتيد	ميگفت	ميگفتند	ميگفت	ميگفتند
ما خندل	مونږ خندل	تا خندل	تاسو خندل	هغه خندل	هغوي خندل	هغې خندل	هغوي خندل

مجهول استمراري ماضي "کېدل" هم د لام په حذف کولو او د هغې پر ځاي د متصلو ضميرونو په راوړلو سره ماضي استمراري جوړېږي او د لام والا متعدي مصدرونو د کېدل پر ځاي د "شول" يا "شوم" په يوځاي کولوسره هم ماضي استمراري فعل جوړېږي. لکه له "ساتل کېدل" او "وهل کېدم"

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غايب	جمع مذکر غايب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
ساتل کېدم	ساتل کېدو	ساتل کېدې	ساتل کېدئ	ساتل کېدۀ	ساتل کېدل	ساتل کېدله	ساتل کېدلې
وهلی شوم	وهلي شوو	وهلې شوې	وهلي شوئ	وهلی شو	وهلي شول	وهلې شوه	وهلې شوې
زده میشدم	زده میشدیم	زده میشدی	زده میشدید	زده میشد	زده میشدند	زده میشد	زده میشدند

مشق

الف: د لاندې پوښتنو ځوابونه ولیکئ
کسبګر ولې په خپل ژوند خوشاله وي؟
حضرت داؤد (ع) څوک ؤ او څۀ کسب يې کاوۀ؟
حضرت داؤد (ع) به څنګه حلاله روزي لاس ته روا ړله؟
ب: د لاندنیو جملو ژباړه وکړئ
۱. شما زده می شدید. ۲. انها نگهداري میشدند. ۳. تو میگفتی که او ما را راضی میکرد. ۴.از طرف تو من نگهداری میشدم. ۵. من میگفتم او شماها را راضی میکرد. ۶. او یک زن در روز چارشنبه زده مي شد. ۷. من در روز پنجشنبه می امدم. ۸. این دخترها در روز دو شنبه می امدند. ۹. اگر تو میگفتی من می امدم. ۱۰ . انها در روز سه شنبه به هرات میرفتند.
ج: له لاندینو ټکو څخه جملې جوړې کړئ
۱. اوړی، ۲. پښتوب، ۳. چیرته، ۴. غل، ۵. ترکاڼي، ۶. ډول ډول، ۷. خوا، ۸. هیڅکله، ۹.وړل، ۱۰. زغره.

اتم لوست

ښه خوي

ښه خوي د سړي قدر عزت او درناوې زياتوي. څوک چې ښه خوي لري هر چا ته ښه ښکاري. خلک ورته په درنه سترګه ګوري، زياته مينه ورسره لري. له بدخويه سړي څخه کرکه کوي. حضرت محمد(ص) فرمايي: "د پوره ايمان څښتن هغه څوک دی چې اخلاق يې تر ټولو ښه وي".

صادق د ښوونځي د دويم ټولګي زده کوونکې او د ډېرو ښو اخلاقو څښتن دی، هغه تل د لمانځه لپاره جومات ته ځي. د ناروغانو پوښتنه کوي. د ښوونکي او مشرانو درناوې کوي، خبرې يې مني، له خپلوانو او ګاونډيانو سره ډېره ښه ګزاره کوي. پلار او مور سره په کارونو کښې مرسته کوي او هم له خپلو ټولګيوالو سره ډېره مينه لري.

سړی په رنګ نه سړی کېږي
سړی هغه دی چې يې خوي د سړو وينه

نوي ټکي:

خوي: عادت چا: کس ښکاري: به نظر میاید ګوري: نگاه میکنند کرکه: نفرت پوره: کامل
څښتن:خاوند/ صاحب ټولګي: جمات /کلاس تل: همیشه لمونځ: نماز خپلوانو: وابستګان/خویشاوندان ګاونډیان: همسایه ګان ګوزاره: ګذران مرسته:کمک ټولګیوال: همکلاس

یادښت: استفهامی ضمیرونه: چې د پوښتنې په وخت کښې د یو شخص یا یو څیز د نومونو پر ځای استعمال شي چې ځینې په دا ډول دي: ۱. څومره/څونه (چه قدر) ۲. څه (چه، در حالت فاعلی ارتباطی و مفعولی) ۳. څو (چند) څوم/ څومه /څومې (رتبه چند) ۴. کوم/کومه/کومې/کم/کومې پورې/کومه یوه/کومو (کدام، که حالت مذکر، مؤنث و حالا فاعلی و اضافی ان فرق می کنند)

۵. چا: (بمعنی کی) د اشخاصو لپاره د متعدي ماضي په فاعلي ارتباطي حالت کښې استعمالیږي لکه: چا جنګ وکړهٔ؟ دا سړی د چا ورور دی؟ چا ته وایې؟ په چا دې پور دی.

(په همدې ځایونو کښې عموماً د "زهٔ" ضمیر پر ځای ما ضمیر استعمالیږي. لکه ما جنګ وکړه، ما ته وایې، په ما دې پور دی او نور....)

۶. څوک: (بمعنی کی) د اشخاصو لپاره دی او د "چا" په مقابل کښې عموماً د لازمي افعالو په فاعلي حالت کښې او په حال او راتلوونکي زمانه کښې د متعدي افعالو په فالي حالت کښې او عموما په مفعولي حالت کښې استعمالیږي، خو ارتباطي حالت نه لري، مثلاً څوک لویدلې دی؟ څوک راځي؟ څوک دې وهي؟ څوک به دې بوځي؟ تا څوک راوسته؟ ته څوک راولې او څوک بیایې؟

په همدې ځایونو کښې زیاتره د "زهٔ" ضمیر استعمالیږي، لکه: زهٔ لویدلې یم، زهٔ راځم، زهٔ دې وهم، زهٔ به دې بوځم، تا زهٔ راوستم، خو په مفعولي حالت چې فعل متعدي وي نو بیا د "زهٔ" پر ځای "ما" ضمیر استعمالیږي.

ګرائمر:

معلومه مطلقه ماضي: داسې جوړیږي د لام او یدل والا مصدرونو استمراري ماضي جوړه کړې له هغې وروسته ورسره په اول کښې د مطلقیت والا "و" ورزیات کړی لکه:

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غایب	جمع مذکر غایب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
وساتلم	وساتلو	وساتلې	وساتلئ	وساته	وساتل	وساتله	وساتلې
وګرځولم	وګرځولو	وګرځولې	وګرځولئ	وګرځاوهٔ	وګرځول	وګرځوله	وګرځولې

د حکمي متعدي مصدورنو څخه معلومه مطلقه ماضي د استمراري ماضي په پیل کښې د مجرد "و" په راوړلو سره جوړیږي لکه له خندل، ژړل، لامبل او نورو څخه

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غایب	جمع مذکر غایب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
ماوخندول	مونږوخندول	تاوخندول	تاسووخندول	هغهٔوخندول	هغوىوخندول	هغېوخندول	هغوىوخندول
ماوژړل	مونږوژړل	تاوژړل	تاسووژړل	هغهٔوژړل	هغوىوژړل	هغېوژړل	هغوىوژړل

من گریه کردم	ما گریه کردیم	تو گریه کردی	شما گریه کردید	او گریه کرد	انها گریه کردند	او گریه کرد	انها گریه کردند

مشق

الف: لاندني ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ

چا، څوک، ما، زه، تل، ګاونډیان، ګزاره، کرکه، پوره، څښتن.

ب: د لاندنیو پوښتنو ځوابونه ولیکئ

۱. پیغمبر(ص) دښو اخلاقو په هکله څۀ فرمایي؟

۲. د صادق له ښو اخلاقو څخه دوه ولیکئ

۳. خلک له چا سره مینه کوي؟

۴. خلک له چا کرکه کوي؟

ج: د لاندنیو جملو په پښتو کښې ژباړه وکړئ

۱. من در مدرسه خیلی گریه کردم. ۲. شما در موسم سرما زیاد خندیدید. ۳. او از همسایه ها نگهداري کرد. ۴. من در جنگ مرده بودم ولی خدا مرا نگه داشت. ۵. ان زنها در روستای ما دور زدند. ۶. شما دنبال انها خیلی گریه کردید. ۷. همکلاسی های ما در تابستان به شهر شما می آمدند. ۸. در بهار امسال هوا خیلی خنک است. ۹. صاحب این خانه دوسال پیش مرده است. ۱۰.من در کارها ی خانه با مادر کمک می کنم.

نهم لوست

د ملالۍ بوټونه

ملالۍ خپلې مور ته وویل: مورې! ډېر وخت کیږي، چې مونږ له ښوونځي څخه رخصت شوي یو. ما په رخصتۍ کښې له ملګرو سره لوبې وکړې. زمونږ رخصتۍ ډېره ښه تېره شوه. خو مورې! زمونږ ښوونځې کله پیل کیږي؟

مور یې وویل: ستاسې ښوونځي درې ورځې وروسته پیل کیږي. کله چې ملالۍ د مور خبره واوریده. ژر پلار ته ورغله او ویې ویل: زمونږ ښوونځې درې ورځې وروسته پیل کیږي، زۀ کالي، کتابچې او قلم لرم خو بوټونه مې زاړه شوي دي.

پلار یې وویل: هو لورې بوټونه دې زاړه شوي دي، زۀ به تا او زمرک ته له بازاره نوي بوټونه راوړم ځکه د زمرک بوټونه هم له کاره وتلي دي.

زلمي، زمرک او ملالۍ ته وویل: "وګورئ! پلار ستاسو لپاره بوټونه راوړي دي څومره ښه بوټونه دي. زه د ښوونځي لپاره کالي، کتابچې او قلم لرم، بوټونه مې هم نوي دي، خو ستاسو بوټونه زاړه شوي وو. پلار دغه نوي بوټونه تاسې ته راوړي دي . خپل نوي بوټونه مو واخلئ.

ملالۍ وویل: زمرکه! دا دي خپل بوټونه دې واخله. زمرک خپل بوټونه په پښو کړل پلار، ملالۍ او زمرک ته وویل: خپل نوي بوټونه مو په پښو کړل؟ خوښ مو شول؟

زمرک وویل: هو پلاره! خپل نوي بوټونه مو په پښو کړل، ډېر مو خوښ شول.

ملالۍ وویل: پلاره! اوس مونږ د ښوونځي لپاره کالي، کتابچې او قلمونه لرو، بوټونه مو هم نوي شول، له تاسې څخه ډېره مننه کوو.

نوي ټکي:

بوټونه: یک نوع کفش رخصت: **تعطیل** لوبې: بازی واوریده: شنید (**اوریدل**) ورغله: پیش او رفت زوړ/زړه/زړې/زاړه: قدیم وګوره: نګاه کن (**کتل**) نوي/نوې: جدید وتل: بیرون رفتن واخلئ: بګیرید (**اخستل**) مننه: تشکر

الف: د پوښتنو ځوابونه ولیکئ.

۱. ملالۍ ولې بوټونه غوښتل؟

۲. زلمي هغوي ته څه وویل؟

۳. ملالۍ خپلې مور ته څه وویل؟

۴. مور ملالۍ ته څه ځواب ورکړ؟

ب: له نوو ټکو څخه جملې جوړې کړئ.

بوټونه، رخصت، لوبې، واوریده، ورغله ،زوړ/زړه/زړې/زاړه، وګوره، نوي/نوې ،وتل، واخلئ مننه

پښتو

دریمه برخه

د بخښونکي او مهربان خداي په نامه

حمد

همه واړه په تسبیح د دهٔ مشغول دي — که ملک دی که پېری دی که انسان دی
هر ماهي يې په درياب کښې حمد وايي — هر مارغه يې په چمن کښې ثنا خوان دی
حد پايان يې هيڅ سړي موندلی نه دی — معرفت يې هسې بحر بې پايان دی
نه يې مثل نه يې مثال نه يې مکان شته — دي بې مثله بې مثاله بې مکان دی
پاک يې وګڼه بې شکه بې ګومانه — له هغه چې د چا شک د چا ګومان دی
نهٔ يې څوک په سترګو ويني نه ليدې شي — او بې چونه بې چګونه نمايان دی

نوي ټکي:

همه واړه: همه — دهٔ: اين (اشاره براى نزديک و ذي روح) — پيرى: جن — درياب: دريا — مارغه: پرنده
منوندل: پيدا کردن — هسې: بې فايده/ مفت/ شان/لکه — ګومان: ظن/ شک — ويني: ميبيند(ليدل)

مشق

۱. د دې نظم نثر وليکئ
۲. د لاندنيو ټکو څخه جملې جوړې کړئ:
دهٔ، همه، واړه، پيرى، درياب، مارغه، ويني، ګومان، هسې، منوندل
۳. د لاندنيو ټکو متضاد وليکئ.

تور	ورځ	لنډ	ماښام	نوې	خندل

افغانستان

افغانستان زمونږ خوږ اسلامي هيواد دی. ګران افغانستان ښکلي باغونه او رنګارنګ ميوې لري. زمونږ هيواد هسک او جګ غرونه لري. لوي لوي سيندونه او ارزښتمن کانونه هم لري. مونږ ټول د خپل هيواد بچيان يو. خپله خاوره او وطن راباندې ګران دی، او پر مونږ د مور په څېر حق لري.
مونږ خپل هيواد تل خپلواک ساتو او د ابادۍ او ودانۍ په لاره کښې يې زيار باسو.

نوي ټکي:

هيواد: کشور — هسک/جګ: لوړ — سيندونه: دريابونه/درياها — ارزښتمن: باارزش — کانونه: ذخائر
څېر: مثل — خپلواک: خودمختار — وداني: ابادي.

ګرایمر:

نږدې ماضي: (در فارسی مثل کرده است، خورده است و...) د ټولو مصدرونو څخه د شپږو کومکي فعلونو په مرسته جوړیږي چې عبارت دي له: یم، یو، یې، یئ، دی، دي، ده، دي. (۱) (د لام والا، ول والا او یدل والا مصدورنو څخه په پای کښې د شپږو کومکي فعلونو په ورزیاتولو څخه جوړیږي. لکه:

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غایب	جمع مذکر غایب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
تللې یم	تللي یوو	تللې یې	تللي یئ	تللې دی	تللي دي	تللې ده	تللې دي
لاړ یم	لاړ یوو	لاړ یې	لاړ یئ	لاړ دی	لاړ دي	لاړه ده	لاړې دي

(۲) د "ول" او "کول وال" مصدرونو کښې تر فعلي صفت وروسته کومکي فعلونه راوړل کیږي، لکه:

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غایب	جمع مذکر غایب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
وینښ کړې یم	وینښ کړي یوو	وینښ کړې یې	وینښ کړي یئ	وینښ کړې دی	وینښ کړي دي	وینښه کړې ده	وینښې کړې دي
مرا بیدار کرده است	ما را بیدار کرده‌است	تو را بیدار کرده‌است	شما را بیدار کرده‌است	او را بیدار کرده‌است	انها را بیدار کرده‌است	او را بیدار کرده‌است	انها را بیدار کرده‌است

(۳) یدل والا مصدرونو څخه د شول د فعل صفت وروسته کومکي فعلونه راوړل کیږي. لکه:

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غایب	جمع مذکر غایب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
وینښ شوې یم	وینښ شوي یوو	وینښ شوې یې	وینښ شوي یئ	وینښ شوې دی	وینښ شوي دي	وینښه شوې ده	وینښې شوې دي

(۴) له حکمي متعدي مصدورنه څخه له فعلي صفت څخه د نارینه جمع (جمع مذکر) په بڼه جوړیږي لکه: خندل

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غایب	جمع مذکر غایب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
ما خندلي دي	مونږ خندلي دي	تا خندلي دي	تاسو خندلي دي	هغه خندلي دي	هغوي خندلي دي	هغې خندلي دي	هغوي خندلي دي
ما ژړلي دي	مونږ ژړلي دي	تا ژړلي دي	تاسو ژړلي دي	هغه ژړلي دي	هغوي ژړلي دي	هغې ژړلي دي	هغوي ژړلي دي

مشق

۱. د خپل هیواد په هکله پینځه جملې ولیکئ
۲. له لاندنیو ټکو او ترکیبونو څخه جملې جوړې کړئ

هیواد ، ارزښتمن، خپلواک، خپل وطن، سیندونه، ښکلي باغونه، خپله خاوره، په څېر

۳. د لاندنیو جملو فعلونو ته په پام سره په پښتو کښې ژباړه وکړئ

۱. کشور ما افغانستان یک کشور خودمختار است. ۲. تو به دنبال او خیلی گریه کرده اید. ۳. تو خیلی میخندیدید. ۴. تو از خواب بیدار شده اید. ۵. دو سال قبل من به کشور خورم رفته ام. ۶. گل مخۍ پارسال به کابل رفته است. ۷. ایا تو به کشور خود رفته اید. ۸. او درکنار دریا نشست تو نشسته اید و من هم می نشینم. ۹. من غذا می خورم زیرا که تو خورده اید. ۱۰. او برای من، قابل عزت و باارزش است.

ساعت څه وايي

واوره څه وايي ټک ټک د هر ساعت
که هوښيار يې اوسه ويښ په لياقت

وويرېږه له لټۍ او بيکارۍ
له سبقه غفلت مه کړه يو ګړۍ

کوچنۍ ستنه د ساعت په کرارۍ
په خوږه ژبه ښه لاره درښيي

وايي واوره چې شو تېر هغه شو هېر
هوښيار نه ګرځي په تېرو پسې ډېر

ځان کړه ما غوندې توانا او خواري کښ
شپه او ورځ کوه سبا ته دې کوښښ

کهالي به دې په خوب کړي سترګې پټې
درته وبه تړي هره لار د ګټې

د هر چا ژوند دی تړلی په سبا
چې سبا لري ژوندې دی په رښتيا

ځوک چې نه خوري نن د بلې ورځې غم
قبلوي به دوي سبا د بل ستم

نوي ټکي:

واوره: بشنو(اوریدل) اوسه: (اوسیدل) باش ويښ: بیدار وويرېږه: بترس لټۍ: کاهلی سبق: درس کوچنۍ: کوچک کراري: ارامش هېر: فراموش غوندې: مثل ستنه: ستون/عقربه/سوزن خواري کښ: زحمت کش کهالي: کاهلی پټول: پوشاندن تړل: بستن رښتيا: راست.

ګرايمر:

لرې ماضي: (در فارسی مثل کرده بود، خورده بود و...) د ټولو مصدرونو څخه د اوو کومکي فعلونو په مرسته جوړیږي چې عبارت دي له: (وم، وو، وې، وئ، ۇ، وو، وه، وې)

۱. (د لام والا، ول والا او يدل والا مصدورنو څخه په پاي کښې د اوو کومکي فعلونو په ورزیاتولو څخه جوړیږي. لکه:

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غايب	جمع مذکر غايب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
تللې وم	تللي وو	تللې وې	تللي وئ	تللې ۇ	تللي وو	تللې وه	تللې وې
لاړ وم	لاړ وو	لاړ وې	لاړ وئ	لاړ ۇ	لاړ وو	لاړه وه	لاړې وې

راغلې وم	راغلي وو	راغلې وې	راغلي وئ	راغلې ؤ	راغلي وو	راغلې وه	راغلې وې

(۲) د "ول" او "کول وال" مصدرونو کښې تر فعلي صفت وروسته کومکي فعلونه راوړل کیږي، لکه:

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غایب	جمع مذکر غایب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
وینس کړې وم	وینس کړي وو	وینس کړې وې	وینس کړي وئ	وینس کړې ؤ	وینس کړي وو	وینبه کړې وه	وینبې کړې وې
موړ کړې وم	ماړهٔ کړي وو	موړ کړې وې	ماړهٔ کړي وئ	موړ کړې ؤ	ماړه کړي وو	مړه کړې وه	مړې کړې وې
پخلا کړې وم	پخلا کړي وو	پخلا کړې وې	پخلا کړي وئ	پخلا کړې ؤ	پخلا کړي وو	پخلا کړې وه	پخلا کړې وې
مرا سیر کرده بود	ما را سیر کرده بود	تو را سیر کرده بود	شما را سیر کرده بود	او را سیر کرده بود	انها را سیر کرده بود	او را سیر کرده بود	انها را سیر کرده بود

(۳) یدل والا مصدرونو څخه د شول د فعل صفت وروسته کومکي فعلونه راوړل کیږي. لکه:

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غایب	جمع مذکر غایب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
وینس شوې وم	وینس شوي وو	وینس شوې وې	وینس شوي وئ	وینس شوې ؤ	وینس شوي وو	وینبه شوې وه	وینبې شوې وې
ستړې شوې وم	ستړي شوي وو	ستړې شوې وې	ستړي شوي وئ	ستړې شوې ؤ	ستړي شوي وو	ستړې شوې وه	ستړې شوې وې
خسته شده بودم	خسته شده بودیم	خسته شده بودي	خسته شده بودید	خسته شده بود	خسته شده بودند	خسته شده بود	خسته شده بودند

(۴) له حکمي متعدي مصدورونه څخه له فعلي صفت وروسته د نارینه جمع (جمع مذکر) په بڼه جوړیږي لکه:

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غایب	جمع مذکر غایب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
ما خندلي وو	مونږ خندلي وو	تا خندلي وو	تاسو خندلي وو	هغه خندلي وو	هغوي خندلي وو	هغې خندلي وو	هغوي خندلي وو
ما ژړلي وو	مونږ ژړلي وو	تا ژړلي وو	تاسو ژړلي وو	هغه ژړلي وو	هغوي ژړلي وو	هغې ژړلي وو	هغوي ژړلي وو

یادابنت:

۱. د لرې ماضي او نږدې ماضي د منفي جوړولو لپاره د " نه" ادات له فعلي صفت څخه وروسته استعمالیږي لکه: راغلې نه یم، راغلې نه وم، خندلي نه دي، خندلي نه وو، ستړې شوې نه یم، ستړې شوې نه وو، موړ کړې نه وم، موړ کړې نه یم او نور....

۲. کله کله د تاکید لپاره (نه وم) یا (نه یم) له فعلي صفت څخه د مخه استعمالیږي لکه: نه یم راغلې، نه وم راغلې، نه وم تللې، نه یم تللې، ما نه وو خندلي، ما نه دي خندلي، ما کار نه ؤ کړې، ما کار نه دی کړی. تهٔ ستړې نه وې شوې، زهٔ ستړې نه یم شوې، کله کله هم په دې بڼه یې منفي هم استعمالیدې شي بې له دې چې څه تاکید پکښې وي. خو دا لهجې او ویلو پورې اړه لري.

مشق

۱. د پورتني نظم نثر ولیکئ
۲. د لاندنیو جملو ژباړه وکړئ
۱. دوست شما چه می گوید. ۲. انها روز پنجشنبه به کربلا رفته بودند. ۳. من خیلی خسته شده ام. ۴. او به من گفت تو خیلی زحمت کش هستي. ۵. من اهل افغانستان هستم ولې در پشاور زندگي می کنم. ۲. ما صبح بیدار شده بودیم. ۷. تو در ماه شعبان خیلی خندیده بودید. ۸. من هفت سال پیش از اینجا رفته ام. ۹. ما تو را فراموش کرده ایم. ۱۰. من همیشه کشور خود را مثل مادر خود میدانم.
۴. د لاندنیو مثالونو په مرسته خالي ځایونه ډک کړئ

که کوچنۍ ستنه په دوه وي او لویه ستنه په درې وي نو پاؤ باندې دوه بجې دي.
که کوچنۍ ستنه څلور او پینځه تر مینځ وي او لویه ستنه په شپږ وي نو څلور نیمې بجې دي.
که کوچنۍ ستنه شپږو ته نږدې وي او لویه ستنه په نهه وي نو پاؤ کم شپږ بجې دي.
که کوچنۍ ستنه په دولس وي او لویه ستنه په دوه وي نو لس لپاسه دولس بجې دي.
که کوچنۍ ستنه په درې وي او لویه ستنه هم په درې وي نو...................... بجې دي.
که کوچنۍ ستنه د درې او څلور تر مینځ وي او لویه ستنه په شپږ وي نو................... بجې دي.
که کوچنۍ ستنه نهو ته نږدې وي او لویه ستنه په نهه وي نو........................... بجې دي.
که کوچنۍ ستنه په لس وي او لویه ستنه په یو وي نو .... بجې دي.
که کوچنۍ ستنه لسو ته نږدې وي او لویه ستنه په اتۀ وي نو .... بجې دي.

خپلواکي

خپلواکي د خداي لوي نعمت دی.
انسانان د خپلواکۍ سره مینه لري، حیوانات او مرغان هم خپلواکي خوښوي. څوک چې د بل خپلواکي اخلي هغه خپله خپلواکي هم له لاسه ورکوي.
وايي چې یوه ورځ یو ښکاري په غرنۍ سیمه وربرابر شو ګوري چې یو زمری د غره په سر ویده دی، ښکاره په زمري د ټوپک وکړ زمری ولګیده او زخمي شو خو ښکاري په زړورتیا د زمري کور ته ورغی فکر یې کاوه چې زمری مړ دی، زخمي (ژوبل شوي) زمري ټوپ کړ، ښکاري چې ډېر ښکار یې کړې ؤ او نورې ګولۍ ورسره نه وې، ځاي نه یې دفاع ونۀ کړې شوه، د زمري په خوله ټوټې ټوټې شو.
له دې درس څخه دا نتیجه اخیستل کیږي چې چا ته خپله خپلواکي ګرانه وي د نورو خپلواکۍ ته په درنه سترګه ګوري. مونږ باید د نورو انسانانو بلکه د ځناور د خپلواکۍ خیال وساتو، مارغان په پینجرو کښې بند نه کړو ځکه چې دا ښه کار نه دی. او بیا د انسانانو خپلواکي اخستل خو لا زیاته بده خبره ده او د دنیا هیڅ یو مذهب هم د دې کار اجازه نه ورکوي. هر څوک چې د بل خپلواکي اخلي خپله خپلواکي هم له لاسه ورکوي په دې هکله خوشحال خان بابا فرمایي:

کوهې مۀ کنه د بل سړي په لار کښې

چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

نوي ټکي:

اخلي: (اخستل) میگیرد ورکوي: میدهد ښکاري: شکاري غرنۍ سیمه: منطقه کوهي
وربرابر شو: به ان طرف راه افتاد ګوري: میبیند(کتل) زمری: شیر ویده: خوابیده ټوپک: تفنگ
ولګید: (تېرخورد) لګیدل: خوردن زړورتیا: شجاعت ګولۍ:فشنگ(چیزگرد) ټوټې ټوټې: قطقه قطعه
کوهې: چاه مه کنه: نکنید چېرې: کجا/گاهي غاړه: کنار

مشق

۱. د لاندنیو پوښتونو ځوابونه ولیکئ
الف: خپلواکي څه ته وایي؟
ب: ښکاري ولې ټوټې ټوټې شو؟
ج: ولې باید د بل د خپلواکۍ خیال وساتو؟
د: د خوشحال خان بابا د دې شعر مطلب څه دی؟

۲. له لاندنیو ټکو څخه جملې جوړې کړئ
اخستل، ورکول، ښکاري، سیمه، کتل، زمری، ګولۍ، زړورتیا، کوهې، کنل، غاړه

۳. د لاندنیو ټکو مترادف ولیکئ او جملې ترې جوړې کړئ

ښکلې	ابادي	هسک	لټې	ازادي	مثل	ګومان	زخمي	چېرې

ګرامر:

د حال فعل د استمرار او نه استمرار له مخې په درې ډوله دی:
(۱) جاري حال یا استمراري: هغه دی چې په حال زمانه کښې یو کار په پرله پسې او دوامداره توګه څرګندکړي: لکه زلمې لیک لیکي، زهٔ کار کوم، دې ډوډۍ خوري
(۲) مطلق حال (مضارع) یا شرطي: په حال زمانه کښې د یو کار په کیدلو او امکان په مطلقه توګه (د استمرار له قیده پرته) دلالت وکړي شرطي حال د زیاتو مطالبو لکه د "هیلې، پوښتنې، تاکید، احتمال، شک، شرط، او د نورو د څرګندولو لپاره استعمالیږي لکه: کاشکې یو لیک ولیکي، لیک درته ولیکم؟ باید لیک ولیکې، ګوندې راشي، که خط ولیکې ښه به وي.
(۳) امکاني حال: چې په حاضره زمانه کښې د یو کار په قدرت او امکان دلالت کوي، لکه: زهٔ کار کولې شم، دې خط لیکی شي.

جاري حال (استمراري)

له بیله بیلو فعلونو څخه په بیلا بیلو ښو جوړیږي په دې کښې ځینې قانوني تغییر منوونکي مصدرونه دي او ځنې غیر قانوني تغییر منوونکي مصدرونه دي او ځینې تغییر نه منوونکي مصدرونه دي چې له بیانولو یې ډډه کوو، یوازې ځینې مثالونه یې بیانوو چې هم د دې په څېر دي چې ځینې وړاندې کوو:

۱. له تغییر نه منونکي فعلونو څخه (چې ټول متعدي دي) داسې جوړېږي چې د لام له حذفولو وروسته متصل فعلي ضمیرونه راوړلې شي چې ټول تقریبا ۹۰ مصدرونه دي لکه: منل منم، پالل پالم، ویشل ویشم او نور
۲. په دې مصدرونو کښې د "لامونو" له حذفولو وروسته "ت" په "ځ" بدلیږي:

راتلل	تلل	درتلل	بوتلل	ننوتل	الوتل	جاروتل
امدن	رفتن	امدن	بردن	داخل شدن	پرواز کردن	برگرداندن
راځي	ځي	درځي	بوځي	ننوځي	الوځي	جاروځي
پورې وتل	لاندې وتل	وتل	تېر وتل	خطا وتل	پرې وتل	تر غاړې وتل
ان طرف رفتن	مشغول شدن	بیرون شدن	اشتباه کردن	خطا کردن	افتادن	هم بغل شدن
پورې وځي	لاندې وځي	وځي	تېر وځي	خطا وځي	پرې وځي	ترغاړې وځي

او داسې نور مثالونه چې داسې صرف کیږي: زهٔ ځم، ته ځې، هغه ځي او نور....
۳. هغه مصدرونه چې په "ایستل" یا "ویستل" پای ته رسیدلي وي د حال فعل د جوړښت لپاره د "ایستل" پر ځای "باسل" راوړل کیږي او د لام حذفولو وروسته په پای کښې متصل ضمیرونو یو ځای کیږي. لکه: تېر ایستل تېرباسم، ننه ایستل ننه باسم، ویستل وباسم او نور.....
۴. هغه مصدرونه چې د مصدري لام له مخه یې "ست" یا "شت" وي د ست یا شت له حذفولو وروسته متصل ضمیرونه یوځای کیږي (بې له دې چې لام یې حذف شي) او که د مصدري لام له مخه یې "است" وي نو د "است" او مصدري لام تر حذفولو وروسته متصل ضمیرونه راوړل کیږي لکه لاندني مثالونه:

لوستل	ویشتل	کښیناستل	راوستل	اخیستل	خملاستل	راخیستل
خواندن	زدن(با تیر...)	نشستن	اوردن	خریدن/گرفتن	دراز کشیدن	برداشتن
لولي	ولي	کښیني	راولي	اخلي	خملي	راخلي

۵. له حکمي متعدي مصدرونو څخه داسې جوړیږي چې په ټولو صیغو کښې د مصدري لام تر حذفولو وروسته، تر لومړي ټکي وروسته یو الف زیاتیږي او په پای کښې متصل فعلي ضمیرونه راوړل کیږي لکه خندل = خاندم

مصدرونه	خندل	ژړل	زنګل	لمبل	ویل	غپل
زه	خاندم	ژاړم	زانګم	لامبل	وایم	غاپم
مونږ	خاندو	ژاړو	زانګو	لامبو	وایو	غاپو
ته	خاندې	ژاړې	زانګې	لامبې	وایې	غاپې
تاسو	خاندئ	ژاړئ	زانګئ	لامبئ	وایئ	غاپئ
هغه/هغوي	خاندي	ژاړي	زانګي	لامبي	وایي	غاپي

۶. او ځیني داسې دي چې څه قاعده او قانون نه لري چې ځینې (مشهور) یې په لاندې توګه دي:

مصدرونه	کتل	لیدل	وژل	موندل	نښتل	ختل
ژباړه	دیدن/نگاه کردن	دیدن/نگاه کردن	کشتن	یافتن	دعوی کردن/چسپیدن	بالا رفتن
حال	ګورم	وینم	وژنم	مومم	نښلم	خیژم

پاکي

سليم چې يو تکړه او پوه زده کوونکې ؤ، خپلو ټولګيوالو به يې ډېر درناوې کاوۀ. ځکه دې د خپل ټولګي اول نومره هم ؤ. که څۀ هم سليم له يوې بزګرې کورنۍ څخه ؤ خو دۀ د نظافت سره ډېره مينه درلوده. تل به يې خپل زاړه کالي ډېر پاک ساتل، مخکښې له دې چې سهار ښوونځي ته لاړ شي، دۀ به خپل لاسونه او غاښونه پاک ومينځل. بيابه يې خپل بوټونه رنګ کړل او ښوونځي ته به روان شو. يوه ورځ په ټولګي کښې ښوونکي ورته وويل: "سليم جانه! ته ډېر لايق او هوښيار هلک يې، ځکه ستا نظافت زما ډېر خوښ شو".

سليم ورته وويل: "هو! روغتيا او سلامتي په پاکوالي کښې ده. هر څومره چې د انسان نظافت ښه وي هغومره يې صحت ښه وي. که د انسان صحت ښه نه وي، نه شي کولای چې د خپل ژوندانه کارونه په ښه توګه پرمخ بوځي. نو مونږ زده کوونکيو ته لازمه ده چې خپلې روغتيا ته پوره پاملرنه وکړو. له خاورو، خځلو او چټليو څخه ځان وژغورو اومې ميوې او خراب خواړه ونه خورو چې بدن مو روغ او صحت مو جوړ وي. ښه ژوند په روغتيا کښې پروت دی خو زمونږ ځينې ټولګيوال ډېر بې پروا دي ناپاکې ميوې خوري چې ټول د انسان صحت ته ضرر رسوي او په ناروغۍ اخته کيږي، ځينې زده کوونکي شته چې خپلو کاليو، د سر ويښتو او نوکونو ته هيڅ پاملرنه نه کوي، چې دا د دوي د تنبلۍ غټه نښه ده ځکه ښه زده کوونکي تل خپل غاښونه، مخ، لاسونه او ځان پاک مينځي او په اونۍ کښې يو وار خپل نوکونه پرېکوي چې دا ټول له يوې خوا د انسان نظافت او پاکوالي ته او له بلې خوا روغتيا ته پوره ګټه رسوي.

ښه زده کوونکي هغه څوک دي خپلې روغتيا او نظافت ته پوره پاملرنه کوي، روغتيا د انسان د برۍ يوه برخه او ناروغي د انسان د ناکامۍ سبب ګرځي. راځئ چې خپل پاکوالې، نظافت او روغتيا په رښتينې توګه وساتو. چې په ناروغو اخته نه شو.

(د شپږم ټولګي يو لوست)

نوي ټکي:

تکړه: توانا　درلودل: لرل　روان شو: راه افتاد(روانيدل)　څومره: چقدر　هغومره: همانقدر
پرمخ بوتلل: جلو بردن (پرمختګ: ترقي)　خځله: آشغال　چټلي: ناپاک،سخا،ګنده، پليت،خيرن ککړ و...
ژغورل: ساتل　اوم: ناپخته/ نه رسيده　پروت: ماندن　اخته: مشغول　نوک: ناخن　پريکول: بريدن
بري: موفقيت　توګه: طور

يادانښتونه:

۱. که فاعل او مفعول دواړه څرګند نومونه وي يا فاعل ځانله خپلواکه ضمير وي نو په دغه صورت کښې فاعل د مفعول څخه د مخه راځي لکه: سليم حميد وواهه، ما حميد ته ډوډۍ ورکړه، او په هغه صورت کښې چې فاعل ناخپلواک ضمير وي هلته مفعول د مخه راځي لکه: سليم مې وليد، زۀ دې وليدم.
۲. په لازمي، حالي او استقبالي متعدي افعالو کښې فعل عموماً د فاعل تابع وي او په ماضي متعدي افعالو کښې فعل د مفعول تابع وي يعنې په لومړي کښې له فاعل او په دويم کښې له مفعول سره سم راځي لکه:
لازمي فعلونه: سليم ولاړ، رحيمه ولاړه، هلکان ولاړل، اينجلۍ لاړې، ښځې کښيناستې، سړي کښيناستل.

متعدي حال استقبالي متعدي: زهٔ مالګه اخلم، ته غوښه اخلې، هغه به اوبه وڅښي.
متعدي ماضي: هغه ډوډۍ وخوړه، هغه انار وخوړ. هغه اوبه وڅښې. ما مالګه اخستلې ده. ما غوړي اخستي دي. ما اوړه اخستي دي. تا ډوډۍ خوړلې وه. او نور........
۳. ارتباطي ادات په پښتو کښې په دوه ډوله دي: سرينه (سابقه) چې د مدخول په سر کښې راځي لکه: (په، پر، د، تر، له، بی) پسينه (لاحقه) چې له مدخول څخه وروسته راځي لکه (له ، ته، لره، نه، څخه، لپاره، باندې، کښې، لاندې، پورې، پشان، غوندې، په څېر، پسې، راسې)

مشق

۱. د لاندنيو ټکو په مرستې سره خالي ځايونه ډک کړئ
اخته، نوکونه، توګه، بري، پرمختګ، خځله، پريکول، اوم، تکړه، هغومره
مونږ ته پکار دي چې په اونۍ کښې يو ځل خپل............پريکوو او ....خواړه ونهٔ خورو ځکه چې په ناروغۍ...........نه شو. څومره چې انسان..........وي .... د درناوي وړ وي. د مثال په ....وايي کوهې مه کنه د بل سړي په لار کښې چېرې ستا به هم د کوهي په غاړه لار شي ښه خوي د انسان د ....او...........سبب کرځي. په کار دا دي چې په لارو کښې .... نه اچوو.
۲. د لاندنيو جملو ژباړه وکړئ.
۱. من ديروز غذا خوده بودم. ۲. او صبح دندانهای خود را شسته است. ۳. اسلام اجازه نمی دهد که کسی ازادی ديگران را بگيرد. ۴. من او را مثل دشمن خودم زده ام. ۵. من با شجاعت از همکلاسی های خودم دفاع می کنم. ۶. پارسال خيلی از برادران افغانی به کشور خود رفته بودند. ۷. اگر اختيار هر انسان در دست خودش بود هيچ کس حصه بد را دوست نمي داشت. ۸. هر قدر که انسان ديگران را احترام کند ديگران همانقدر ديگران هم او را احترام خواهند کرد. ۹. جنگيدن براي دفاع از خود سخن بدي نيست. ۱۰. من همراه برادرم از قندهار به کابل با اتوبوس امده بودم.
۳. د لاندنيو پوښتنو ځوابونه وليکئ.
۱. د سليم ټولګيوالو ولې د هغه درناوې کاوه؟
۲. سليم د خپلو ځينو ټولګيوالو په هکله څه وويل؟
۳. ولې وايو چې: "روغتيا د بری يوه برخه ده"؟
۴. د ښې زده کړې لپاره لاندنې متن فعلونو او سرينې او پسينې ته په پام سره ولولئ.

د حقونو رساله

د امام سجاد (ع) يو قيمتي اثر او کتاب د "حقونو رساله" ده چې د پخوانيو عالمانو په کتابونو کښې يې يادونه شوې ده په تحف العقول کتاب کښې ټوله موجوده ده.او په من لا يحضره الفقيه، خصال ، امالي کښې يې هم ځنې برخې راغلي دي. بده نهٔ ده چې له دغه کتابه هم ځينو برخو ته اشاره وکړی شي چې د هر يو څيز د حقونو په حقله يې ليکلی دی.
د خداي حق: د لوي خداي حق په تا دا دی چې د هغهٔ عبادت وکړې. شريک ورسره ونهٔ ټاکې او که په اخلاص سره دې داسې وکړل نو خداي پاک به دې دنيا او اخرت ښهٔ کړي.
د نفس حق: د نفس حق په تا دا دی چې د خداي پاک په اطاعت کښې ترې کار واخلې.

د ژبې حق: له بدو خبرو او کنځلو ساتل او د نيکو خبرو عادت، همدا شان د چټي او فضولو خبرو نه ځان بچول او له خلقو سره د ژبې په ذريعه نيکي کول.

د غوږونو حق: د غوږونو حق له غيبته او ناجائز او حرامو څخه ددې ساتل دي.

د سترګو حق: له حرامو نظارو ساتل، او د سترګو په ذريعه عبرت اخستل.

د لاسونو او پښو حق: د پښو حق دا دی چې هغو ځايونو ته پرې لاړ نشې چې حلال نۀ دي ځکه چې په همدغو پښو به د صراط په پل ودريږی نو خيال کوه چې ونۀ ښويږې. او په اور کښې پرې نۀ وځې.

د خيټې حق: دا دی چې د حرامو ځاله يې نۀ کړې او له ضرورته زيات ونۀ خورې.

دعورتينو يا شرم ځايونو حق: چې له زنا او فحشاوو يې وساتې او د نورو له نظره يې پټ کړې.

د نمانځۀ حق: د مانځۀ حق دا دی چې پوه شې چې مونځ د خدايې درته حاضريدل دي او په مانځۀ کښې خدايې ته ولاړ يې او که په دې پوه شوې نو په ډيرې عاجزۍ او غريبۍ سره به ودريږې او په زړۀ سره به هغۀ ته متوجې کيږې او د مونځ حق به ادا کړې.

د حج حق: دا دی چې پوه شې چې حج د خدايې درته ورتلل او له ګناهونو څخه خدايې ته پناه وړل دي. ستا د توبې د قبليدو وسيله او د هغې فريضې کول دي چې خدايې په تا فرض کړې ده.

د روژې حق: دا دی چې پوه شې چې روژه داسې پرده ده چې لويې خدايې ستا په خلۀ ،غوږونو، سترګو، خيټې او شرم ځايونو اچولې ده چې په دې وسيله دې له اوره وساتي او که روژه دې پريښوده نو د خدايې پرده دې شلولې ده.

د صدقې حق: دا دی چې خبر شی دا ستا په نزد د خدايې يوه صدقه ده. او داسې امانت دی چې ګواه ته يې حاجت نشته. که په دې خبره پوه شوې نو په هغه څۀ به دې زيات اطمينان وي چې په پټه يې د خدايې په لار کښې ورکوې. او خبر شه چې صدقه په دنيا کښې تا له بلاګانو مصيبتونو او ناروغيو ساتي او په اخرت کښې له اوره.

د قربانۍ حق: دا دی چې لوي خداي ورسره وغواړې نۀ مخلوق.

د استاد حق: د هغۀ عزت او ورته د لويې والي ورکول دي، د هغۀ په وړاندې په ادب سره کښيناستل او د هغۀ خبرو ته ښۀ غوږ اچول دي. پکار ده چې په استاد باندې ستا اواز لوړ نۀ وي او که څوک ترې څه پوښتنه وکړي نو تۀ ځواب نۀ ورکوې بلکې پريږدې چې هغه په خپله ځواب ورکړي. د هغۀ په محفل کښې له چا سره خبرې مۀ کوه دهغۀ په مخکښې د چا غيبت نۀ دی پکار او که څوک د هغۀ غيبت وکړي نو پکار ده چې دفاع يې وکړې دهغه بدۍ او عيبونه پټ او نيکۍ ښکاره کړه، له دښمن سره يې ملګرتيا او له دوست سره يې دښمني مه کوه. که په دغو دندو دې عمل وکړو نو فرښتې ګواهي ورکوي چې تۀ د خداي لپاره هغۀ ته ورغلې يې او علم دې ترې زده کړې دی نۀ د خلقو لپاره.

د زده کونکي او د شاګرد حق: په استاد باندې د شاګرد حق دا دی چې استاد پوه شي چې خدايې پاک چې کوم علم دۀ ته ورکړې او دې يې د شاګردانو مشر ټاکلې نو پکار ده چې نيک درس ورکړي په شاګردانو سختي ونۀ کړي او غصه نشي چې خدايې پرې خپل رحمت زيات کړي. او که خلق دې له خپله علمه منعې کړل او سختي دې ورسره وکړه نو خدايې به درنه د علم رڼا واخلي او له سترګو به دې وغورزوي.

د ښځې (ټبر) حق: په تا باندې د خپلې ښځې حق دا دی چې پوه شې چې خدايې هغه ستا د اسانتيا او محبت وسيله ګرځولې ده او دا په تا باندې د خدايې يو نعمت دی، نو عزت يې وکړه او محبت ورسره وکانده. کۀ څه هم په هغې باندې ستا حق زيات دی خو په تا لازمه ده چې ورسره مهربان اوسې.

د مور حق: دا دی چې تۀ په دې پوه شې چې په داسې ځايې (خيټې) کښې يې ګرځولې يې چې نور څوک دې نۀ ګرځوي. او تا ته يې د خپل زړۀ ميوه(وينه) درکړې ده چې هيڅوک چاته نۀ ورکوي، تۀ يې په خپلو ټولو غړو سره وساتلې او پروا يې ونۀ لرله چې پخپله وږې وي خو تۀ يې موړ کړې، تږې پاتې شوه خو تۀ يې خړوب کړې، هيڅ پروا يې نۀ وه. چې پخپله جامه ونۀ لري خو تۀ يې پټ کړې پخپله په نمر کښې وه او تۀ يې سيوري ته کړې. ستا په خاطر يې شپې روڼې کړې او له تودو سړو يې وساتلې چې تۀ ورته ژوندې پاتې شې. نو د خدايې له مرستې او د هغۀ له توفيقه پرته د مور د شکريه او مننې توفيق نۀ لرې.

د پلار حق: خبر شه چې پلار ستا بنياد دی که هغه نۀ ؤ نو ته به هم نۀ وې. نو کله چې دې په ځان کښې کوم خوښوونکې او ښۀ صفت وليدۀ، پوه شه چې ددې نعمت اصل ستا پلار دی د خدايې شکر کوه او په همدې اندازه د پلار منندوي اوسه.

د زوي حق: دا دی چې پوه شې دې له تا دی او د دنيا په نيکو او بدو کښې په تا پورې تړلی دی او تۀ د هغه د روزنې، د خدايې په لور د هدايت او د خدايې د حکمونو په منلو کښې له هغۀ سره د مرستې ذمه وار يې. نو د هغۀ په کار کښې داسې اوسه چې ګوندې د هغۀ په نيکو کارونو تاته هم بدله ملاويږي. او د هغۀ په بدو تا ته هم سزا.

د ورور حق: دا دی چې هغه ستا لاس، ستا عزت او ستا توان دی. هغه د خدايې د نافرمانۍ او په مخلوق باندې د ظلم لپاره وسيله مۀ ګرځوه، د دښمن په وړاندې د هغۀ مرسته کوه او خير غوښتونکې يې اوسه او که د خدايې له اطاعته بغير ګام پورته کوي نو خدايې ته په هغۀ ترجيح ورکوه.

د نيکې کوونکي حق: په تا دا دی چې د هغۀ منندوي اوسې او نيکي يې ياده وساتې، د هغۀ ښه والې ووايې. خدايې ته د هغۀ لپاره خالصه دعا وکړې او که وس دې ورسيد د نيکۍ بدل يې ورکړې.

د ملګري او شريک حق: په تا دا دی چې نرمي ورسره وکړې او په خبرو کښې انصاف هغۀ ته ورکړې. نيکۍ يې يادې ساتې او بدۍ او غلطۍ يې هيرې کړې.

د ګاونډي حق: د هغۀ په نشتوالي کښې د هغۀ د حقوقو خيال ساتل دي، له هغۀ سره مرسته او که ظلم ځپلې وي نو مرسته ورسره پکار ده . پکار ده چې په عيبونو پسې يې ونۀ ګرځې، که بده دې ورځنې وليده نو پټه يې کړې، که نصيحت ورته وکړې په سختۍ يې يوازې پرې نۀ ږدې او نيک معاشرت او ګډ ژوند ورسره وکړې.

د دوست حق: دا دی چې په انصاف او عزت سره ورسره ناسته پاسته وکړې او څنګه چې ستا قدر کوي، قدر يې وکړې چې په دې کښې تر تا مخکښې نشي او که مخکښې شو نو بدله ورته ورکړې داسې مهربان ورسره اوسه لکه له تا سره چې مهربانه دی که د ګناه خيال او نيت وکړي نو منعې يې کړې او د هغۀ لپاره رحمت جوړ شه نۀ عذاب.

په کار اومال کښې د شريک حق: دا دی چې که غائب وي نو د هغۀ په ځايې کار وکړې او که موجود وي نو خيال يې وساتې. د هغۀ مخالف حکم ونۀ کړې او د هغۀ له مشورې پرته کار ونۀ کاندې. د هغۀ د مال خيال وساتې، او خيانت ورسره ونۀ کړې ځکه چې تر څو دوه شريکه له يو بل سره خيانت ونۀ کړي خدايې ورسره ملګرې وي. څوک چې دې منندوي نۀ وي په ځان ورته ترجيح ورنۀ کړې خپل مال د خدايې په اطاعت کښې ولګوې، بخل او کنجوسي ونۀ کړې چې افسوس او پښيماني دې نصيب نشي.

د پور غوښتونکي حق: دا دی چې که پيسې يا بل څه لرې ورېې کړې که نۀ وي درسره نو نيک ځواب ورکړې چې هغه خوشاله شي.

له تا سره د مشوره کوونکي حق: دا دی چې که پوهيږې نو لار ورته وښيې او که نۀ پوهيږې نو داسې کس وروښيې چې په خپله پوهيږي . له چا سره چې ته مشوره کوې که رايې يې له تا سره يو وي نو د خدايې شکر وکړه او که بدله وي نو تهمت پرې ونۀ لګوې. که چا درنه نصيحت وغوښت نو نصيحت ورته وکړه او مهرباني ورسره کوه،

د لويو حق: دا د چې د هغوي د عمر او په اسلام کښې تر تا له مخکښې کيدو په وجه يې عزت وکړې تر هغۀ مخکښې روان نۀ شې او مخې مخې ته يې نۀ ځې.

د وړوکي حق: دا دی چې مهرباني ورسره وکړې دښوونې، بخښنې او د هغۀ د عيب د پټولو په وخت او له هغۀ سره د مرستې په وخت

د سوال کوونکي حق: په تا دا دی چې که له تا څۀ وغواړي نو د هغۀ داړتيا په اندازه يې ورکړې.

نوي ټکي

پخواني، کذشته ګان ټاکل : انتخاب کردن کنځل: دشنام بچول: نګهداشتن ودريدل: ايستادن ښويدل: سل خوردن
ځاله: لانه شلول: پاره کردن وغواړي: بخواهيد اچول: انداختن پريږدي: بګزاريد دنده: کار غورزول: انداختن
وينه: خون غړي: اندامها وږي: ګرسنه تږي: تشنه خړوب: سيراب سيوره: سايه شپه روڼول: شب بيداري کردن
پرته: علاوه(بدون) منندوي: شکرګزار تړل: بستن تا پورې: با تو ملاويږي: داده مى شود وس: توان
ظلم ځپلې: ستم ديده ګډون: شرکت ګډ: مشترک ناسته پاسته: نشت و برخاست پور: قرض اړتيا: ضرورت

د پښتو صوفي شاعر رحمن بابا

رحمان بابا په ۱۰۴۲ هجري قمري کال کښې په یوۀ کلي کښې چې بهادر کلي په نامه یادیږي، پیدا شوې دی. دې په یوه غریبه کورنۍ کښې پیدا شوې دی، پلار یې عبدالستار نومیدۀ، په قوم مومند دی، عبدالرحمان بابا چې پښتانه یې رحمان بابا بولي، د دۀ اشعار که څیر وکتل شي نو دا به څرګنده شي، چې رحمان یو خوږ ژبې او صوفي شاعر ؤ. دۀ د ظلم او استعمار په مقابل کښې هم د خلکو د ذهنیت د روښانه کولو لپاره هلې ځلې کړې دي لکه چې وایي:

پــه سبــب د ظــالـمـانو حـالـکـمـانو
کور و ګور و پیښور درې واړه یو دي.

نوي ټکي:

نومیدۀ: نامیده مي شد (نام داشت) پښتانۀ: جمع پښتون (پشتو زبان) څیر: غور و فکر روښانه: روشن
هلې ځلې: کوشش

ګرائمر:

راتلوونکي مستقبل فعل د حال فعل په شان په درې ډوله دی. ۱. راتلوونکې استمراري فعل، ۲. امکاني راتلوونکي فعل، ۳. مطلق راتلوونکې فعل:

۱. راتلوونکې استمراري فعل (هغه دی چې په راتلوونکې زمانه کښې د یو کار دوام او استمرار وښیي)

د استمراري فعل په پاي کښې د مستقبل د علامې یعنې (به) په راوړلو سره جوړیږي لکه: له تلل مصدر څخه:

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردمذکر غایب	جمع مذکر غایب	مفرد مؤنث	جمع مؤنث
ځم به	ځو به	ځې به	ځئ به	ځي به	ځي به	ځي به	ځي به
لولم به	لولو به	لولې به	لولئ به	لولي به	لوي به	لولي به	لوي به
خاندم به	خاندو به	خاندې به	خاندئ به	خاندي به	خاندي به	خاندي به	خاندي به

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردو جمع مذکر غایب
پخلا کوم به	پخلا کوو به	پخلا کوې به	پخلا کوئ به	پخلا کوي به
پخلا کیږم به	پخلا کیږو به	پخلا کیږې به	پخلا کیږئ به	پخلا کیږي به

منفي یې داسې جوړیږي چې د "نه" ادات او "به" دواړه د فعل تر مخه راشي لکه: نه به ځم، نه به خورم او نور.....

چې کله استمراري فعل په یوه جمله کښې د فاعل، مفعول، یا قید او نورو سره راشي نو په هغه وخت کښې "به" ادات د جملې له لومړي توکي سره یوځاي کیږي لکه:

زۀ به ځم	کتاب به لولم	دې به پاتې کیږي	هغه به خوري	ته به کښینې
زۀ به نۀ ځم	کتاب به نۀ لولم	دې به نۀ پاتې کیږي	هغه به نۀ خوري	ته به نۀ کښینې

مجهول یې داسې جوړیږي: هغه به وهل کیږي، هغه به ساتل کیږي، زۀ به پخلا کیږم، ته به راوستل کیږې او نور..

۲. مطلق راتلوونکي فعل (هغه دی چې په راتلوونکي زمانه کښې د یو کار کول یا نه کول له امکاني او استمراري قید څخه پرته څرګند کړي) داسې جوړیږي چې د ټولو لام والا مصدرونو کښې د مطلق حال فعل په مینځ کښې یعنې د مطلقیت تر "و" څخه وروسته د "به" په راوړلو سره لاس ته راځي. او د منفي لپاره یې د "به" ادات وروسته "نه" هم زیاتیږي لکه:

مفردمتکلم	جمع متکلم	مفرد مخاطب	جمع مخاطب	مفردو جمع مذکر غایب
وبه خورم	وبه خورو	وبه خورې	وبه خورئ	وبه خوري
وبه نه غواړم	وبه نه غواړو	وبه نه غواړې	وبه نه غواړئ	وبه نه غواړي

له دوه توکیز مصدرونو څخه د مطلق حال فعل په مینځ کښې د "به" ادات راوړې شي او د منفي جوړولو لپاره یې تر "به" وروسته "نه" زیاتیږي لکه:

پورې به وځم	کښې به نم	پا به څم	کر به وکړم	ظلم به وکړم
کار به وکړم	پرې به وځم	جوړ به کړم	پخلا به شم	سلام به وکړم
پورې به نه وځم	کښې به نه نم	پا به نه څم	پخلا به نه شم	سلام به ونه کړم

د تلل، راتلل، ورتلل، درتلل، وړل مصدرونو څخه د قیاس په خلاف د شکل بدلولو سره او د په مینځ کښې د "به" په زیاتولو سره جوړیږي لکه په ترتیب سره:

لاړ به شم	را به شم	ور به شم	در به شم	یو به سم
لاړ به نه شم	را به نه شم	ور به نه شم	در به نه شم	یو به نه سم

امکاني مستقبل فعل هغه دی چې په راتلونکي زمانه کښې د یو کار امکان او قدرت بیانوي لکه: وبه یې لیدې شي. وبه یې لیکلې شي. وبه یې خوړلې شي. تللې به شي، پرې به وتلې شي، جوړولې به شي او نور

یادونه: کله چې دا ټول فعلونه فاعل، مفعول یا قید سره یوځای شي یعنې په جمله کښې راشي نو "به" ادات به لومړي ټکي سره یوځای راځي چې مثالونه یې له مخه تېر شول.

مشق

الف: لاندینو پښتنو ته ځوابونه ورکړئ

۱. ولې وایي چې د ګاونډي عیبونو پسې مه ګرځئ؟
۲. زوی ولې د دنیا په نیکو او بدو کښې په پلار پورې تړلې وي؟
۳. د استاد له حقونو څخه دوه بیان کړئ؟
۴. د لمونځ حق څنګه ادا کیږي؟
۵. که یو شریک له بل سره خیانت وکړي نو خدای ور سره څهٔ کوي؟
۶. ولې باید د تېر عزت او درناوې وکړو؟
۷. رحمن په کله او په کوم ځای کښې پیدا شو؟
۸. د هغه له شعرونو څخه څهٔ څرګندیږي؟

ب: د ښنم مصدر څخه د مستقبل استمراري صرف وکړئ

په اسلامي تاریخ کښې لومړی نعت شریف

کله چې د یو مسلمان په مخکښې د نعت شریف ذکر راشي نو مخې سره یې ذهن ته دا خبره راځي چې د خدای د ګران رسول (ص) صفت او فضائل د شعر په ژبه وئیل شوي دي. چرته مو نه دي لیدلي چې یو مسلمان شاعر وي او هغۀ به د خاتم الانبیاء حضرت محمد مصطفی (ص) په مدح کښې نعت شریف نه وي لیکلی بلکې د مسلمانو شاعرانو اکثر دیوانونه او شعري مجموعې له حمد نه پس له نعت شریف نه شروع کیږي. نو راځئ چې د تاریخ پاڼې ولټوو چې هغه څوک مبارک او نېکمرغه انسان دی چې په اول ځل یې د خدای دګران رسول (ص) په شان کښې نعت شریف ویلی دی نو د تاریخ په پاڼو کښې مونږ ته هغه مبارکه څېره لکه د نمر په نظر راځي او هغه نېکمرغه او مبارک انسان د بنی هاشم خاندان مخور مشر، د خدای د ګران رسول (ص) ترۀ او د هغه حضرت (ص) نکاح خوان حضرت ابوطالب (رض) دی.

دا مشهوره واقعه تقریباً ټولو تاریخونو په مختلفو طریقو لیکلې ده چې یوه ورځ د قرېشو ستر ستر او نامتو مشران د حضرت ابوطالب (رض) کور ته ورغلل او د ګیلې او یوې دړکې په توګه یې ورته وویل چې "ای ابوطالبه! مونږ ستا د لوړ مقام او مشرۍ خاص خیال ساتو، له دې نه مخکښې مو هم درنه غوښتنه کړې وه چې ورارۀ مو منعې کړئ خو څه نتیجه یې ورنکړه. قسم دی چې نور زغم او صبر نه شو کولې چې هغه دې زمونږ په معبودانو نیوکې او اعتراضونه کوي. یا خو مو محمد (ص) له دغو حرکتونو نه منعې کړئ او یا یې مونږ ته حواله کړئ، مونږ به درته خبر دی د دۀ په بدله کښې بل ښکلی ځوان درکړو. یا که دې چا ښکلې جینۍ سره وادۀ کول غواړې یا مال او دولت ته یې ضرورت وي نو ټول ضرورتونه به یې پوره کړو خو زمونږ له معبودانو نه دې لاس واخلي. او که نه وي نو مونږ به مقابلې ته راووځو نو که بیا مو څوک مړۀ کړل او که چا مړۀ کړو پروا نیشته" له دې ګواښ، دړکې او ګیلې نه پس د قرېشو مشران ستانه شول. حضرت ابوطالب (رض) باندې د قرېشو د مشرانو دا خبرې ډېرې بدې ولګېدې ځکه چې هیڅکله دې ته تیار نه ؤ چې خپل خوږ ورارۀ قرېشو ته حواله کړي او هغوی یې شهید کړي نو حضرت ابوطالب (رض) د خدای ګران رسول (ص) ځانته راوغوښت او ورته یې د قرېشو لخوا وئیل شوې ټولې خبرې وکړې. د خدای ګران رسول (ص) د دې خبرو په اورېدو سره وفرمایل:"کاکا جانه! که دغه کسان زما په ښی لاس کښې نمر او په ګس کښې سپوږمۍ راکوزه کړی او په لاسونو کښې راته کیږدی نو بیا به هم زۀ د دین له تبلیغ نه لاس وا نخلم" او په دې وئیلو سره یې زړۀ راډک شو او له اوښکو ډکې سترګې د خپل مهربان کاکا لخوا پاڅېد او روان شو. حضرت ابوطالب ورته اواز وکړ. کله حضور (ص) واپس تشریف راوړۀ نو ترۀ ورته مسکی شو او په ډېره مینه یې ورته وویل: ای زما ګرانه! څه چې دې خوښه وي هغه کوه او زما دې په خدای قسم وي چې تا به چا ته ورنه کړم او نه به درته څوک په کږه سترګه وګوري. او بیا حضرت ابوطالب (ع) د خدای د ګران رسول (ص) په شان کښې په دا ډول في البدیه نعت شریف وویلو:

والله لـن یصلـوا الیك بجمعهم	په خـدای قسم چې څوک به هـم نږدې نۀ درته راشي
حتی او سـد فـی الـتراب دفینا	تـر هـغه چې مې د خـاورو لاندې دا بدن فنا شي
فاصدع بامرك ما علیك غضاضه	کـوه ښـه پـه ازاده هـغه څـه چې زړۀ دې غـواړي
والشر و قو بـذاك منـك عیـونـا	ضـرر د درکـولـو بـه یــې پـوره نـه مـدعـا شي

و دعوتنی و نعمت انك ناصحی	مـنم چـې دې دعــوت کـړمـه نو ته زما خېرخوا يې
ولقد صدقت و کـنت ثـم امينـــا	صــادق يـې هـم امـين يـې نو بــاور ځکـه په تا شي
و عــوضــت ديـنا لا مــحالــه انه	بې شکه چې کوم دين دی وړاندې کـړی تـــا دنيا ته
مــن خــير اديــان الــبريــه ديـنـــا	پــه نـــور واړو ديـنونو دغــه دين بــه دې بـالا شي

مخې سره ولټوونېکمرغهاول ځلځېرهمخورسترنامتو ګیلې او یوې دړکېوراړۀزغمنیوکېګواښ، دړکې او ګیلېسپوږمی،راکوزهاوښکومسکۍکړه

ج: لاندنې متن په ډېر ځير نظر ولولئ او ماضي، حال او استقبال يې جلا جلا وليکئ.

د امام حسين عليه السلام ځينې ويناوې

✸ امام حسين عليه السلام خپل زوي امام زين العابدين ته په وصيت کې فرمايي: ای زويه! له ظلمه ځان وساته، په تېره بيا په داسې کسانو له ظلمه چې له خدايه پرته بل څوک نه لري (ځکه چې خداي د داسې مظلوم بدله ډير زر اخلي)

✸ يو سړي له امام حسينه وغوښتل چې د دنيا او اخرت د ښيګړې په حقله ورته څۀ وليکي، امام حسين عليه السلام ورته وليکل: بسم الله الرحمن الرحيم. څوک چې د خداي رضا غواړي او د خداي خوشحالي د خلقو په غصې خرڅه نه کړي، نو خداي به يې په هره چاره او د خلقو په چارو کې بې نيازه کړي او څوک چې د خلقو رضا غواړي او د خلقو خوشحالي او رضا د خداي په غصې واخلي نو خداي يې خلقو ته پريږدي (يعنې خداي ورځنې خپل کرم او رحمت واخلي)

✸ امام حسين عليه السلام ته يو سړی راغی او ورته يې وويل چې زه په ګناهونو کې پټ يم او له خپلو ګناهونو نه شم تښتيدلی. ما ته نصيحت وکړه. امام حسين عليه السلام ورته وفرمايل چې پينځه کارونه کوه نور چې دې زړه کومه ګناه غوښتله کولی يې شې:

١. د خداي له نعمتونو استفاده مه کوه، هله ګناه ته مخ اړوه.
٢. که د خداي له دنيا، حکومته او سرپرستۍ وتلی شې نو ګناه کوه.
٣. داسې ځاي ته لاړ شه چې خداي دې نه وينی، بيا چې دې څه زړه غوښتل کوه يې.
۴. که د مرګ په وخت خپل روح د خداي له فرښتې ساتلی شې نو کومه ګناه چې دې خوښه وي کوه يې.
۵. او که دا طاقت لرې چې کله دې د دوزخ په اور کې اچوي نو ته ترې ځان بچ کړې نو بيا هم ګناه کولی شې.

(نو ته دا پينځه کارونه نه شې کولی پکار ده چې ګناه ونه کړې)

✸ امام حسين عليه السلام وفرمايل: ای انسانه! ستا هستي او پانګه (سرمايه) ستا عمر دی. ستا د عمر هره ورځ چې تيريږي، ستا د وجود يو ټوټه کميږي (نو پام کوه چې له عمره دې سمه استفاده کوې او که نه هغه فضول او بې ځايه تېروې)

✸ له امام حسين عليه السلام څخه وپوښتل شول چې په څنګه حال کې دې صبح کړه يعنې سهار په څنګه حال کې راپاڅيدې؟ امام وفرمايل: په داسې حال کې راپاڅيدم چې زما خداي او پروردګار ما وينې، د جهنم اور زما په وړاندې دی او مرګ راپسې دی چې راومې نيسي، په دنيا کې او اخرت کې مې هر څه په حساب کتاب دي او زۀ په خپلو اعمالو پړ يم. داسې نه ده چې څه غواړم هغه وشي او ورته ورسيږم او څه چې مو نه دي خوښ او نه يې غواړم. له ځانه لرې کړی شم ځکه چې ټولې چارې د بل چا (خداي) په لاس کې دي که وغواړي عذاب راکوي او که خوښه يې وي بخښي مې. نو کوم يو فقير تر ما ډير فقير دی.

✸ امام حسين عليه السلام فرمايي: ځينې کسان د جنت او بهشت په اميد د خداي بندګي کوي چې دا بندګي او عبادت د تاجرانو او سوداګرانو عبادت دی، ځينې خلق د جهنم له ويرې د خداي عبادت کوي چې دا د غلامانو او مريانو عبادت دی، (يعنې که د مالک له سزا ونه ويريږي خبره نه منې) او ځينې کسان د خداي عبادت د شکر او د نعمتونو د منڼې او شکريه لپاره کوي چې دا د ازادو او پتمنو عبادت دی او دا د عبادتونو تر ټولو لوي او ښه ډول دی.

✸ خداي تعالي د هيچا طاقت تر هغه وخته نه کموي چې فرائض او واجبات يې کم نه کړي او د چا وس تر هغه وخته نه کموي چې ذمه واری او دندې يې کمې کړي (يعنې هر چاته د هغه د طاقت او وس مطابق ذمه واری او فرض سپاري).

✱ ستاسو بدله له جنته علاوه بل څۀ نه ده نو ځان په نورو مه خرڅوئ ځکه څوک چې په دنیا راضي شي (یعنې مقصد یې یوازې د دنیا ګټل وي) نو په ډیر سپک او پست شي راضي شوی دی.
✱ د حقو له منني او پیروی علاوه عقل په بل څه نه کامليږي.
✱ د تیرو نعمتونو شکر د دې سبب کیږي چې خداي پاک تا ته نور نعمتونه درکړي.
✱ یوازې هغه کس امانت دار بوله چې له خدا یه ویریږي.
✱ له امام حسینه پوښتنه وشوه فضیلت او لوړاوی په څه کې دی؟ وې فرمایل: د ژبې مالکیدل (یعنې په خپلې ژبې کنټرول) او نیکي او ښیګړه کول.

نوي ټکي

ښیګړه: نیکی   په تیره بیا: بیش از همه   چاره: دنده/کار/فعل/وسیله   مخ اړول: روکردن/روگرداندن   پاڅیدل: بیدار شدن/بلند شدن   وړاندی: جلو   راومې نیسي: او مرا بگیرد (نیول: گرفتن)   پړشول: شکست خوردن/تسلیم شدن   شکریه: منته/تشکر   پت: غیرت، پتمن: غیرتمند   وس: طاقت/توان   بوله: بپندار/بدان

دولسم امام (عج)

زۀ د کوم ځاي نه شورو کړم ستا ثنا   چې یم ډېر عاجز بنده تۀ یې اقا
اول حمد کوم د رب العالمین   بیا سلام وي په احمد مجتبی
خدایا ډېر شکر دی ستا په نعمتونو   چې دنیا ته دې راواستول اولیاء
څوک دې وساتل جنت کښې بیا بهر شول   چا کشتی ته دې امان کړو له دریا
څوک خلیل دې ځان ته جوړ کړلو اعلی شول   څوک دې بې پلاره پیدا کړو په دنیا
رسیدل که څوک د تا درګاه ته غواړي   لاره ښه نشته له دغو نه سیوا
په هر وخت کښې شریعت حافظ موجود ؤ   هیڅ یو دم نه ؤ خالي له اوصیاء
اخر دا چې مبعوث کړو مصطفی   مقدم دې کړو په ټولو انبیاء
بیا دې اجر رسالت ورته قرار کړو   لا اجر مګر مودت قربی
بیا فرمان کړو دا رسول کبریا   ما نه پس به وي علي ستاسو مولا
وینه ستا وینه زما ده اې علی   ستا په وینه به وي حق باطل جدا
میدانونه بیا علي فتح کولو   که ممبر وې که محراب که وې صحرا
چرته بدر او خیبر چرته حنین کښې   قاسطین او مارقین یې کړو فنا
بیا په بغض کښې د علی عالم راټول شو   کړو شهید یې حسنین کوي بُکا
د حسن جنازه غشو لاندې راغله   حسین جان شو مسافر د کربلا
بغض یې پلار سره شهیدان ورته زامن کړي   څه عجب ظالم دستور دی د دنیا
هدایت ډیوې ورو ورو په مړې کیدو شوې   ستوري نشته په اسمان نشته رڼا
چرته لاړلو حسن چرته حسین   چرته لاړ هغه آل د مصطفی
چرته لاړلو صاحب زمونږ د ټولو   اَیْنَ الطّالِبُ مَقْتولِ کربلا
اې فرزنده د آدم او د حوا   اې فرزنده د یاسینَ او طه
اې فرزند د خدیجه او فاطمه   اې فرزند د مصطفی او مرتضی
چرته لاړ شم چرته لاړ شم چرته لاړ شم   نه پوهیږم کړمه هر وخت دا دعا
اې امامِ انس و جانه راشه راشه   کړه د عدله یو ځل ډکه نړۍ بیا
د نرګس ګله یو وارې مخ څرګند کړه   پسرلې راوله غوټۍ شه په خندا

Download From; Aghalibrary.com

اوس د ظلم دا تیرې په ختمیدو شوې
هغه نمر به له وریځو مخ سرګند کړي
دا د ظلم سمندر په قرار شي
ناخدا د کشتۍ راغلو د اسلام
چې لرزان شي انتظار کښې وجود ستا
تَنَزُلْ د هیولا به هله خلاص شي
اې رحیمه ته رحیم ته که رسیږې

لری نه ده چې یو ورځ به شي صبا
په هر ځای کښې به شي سپینه ورځ رڼا
د اسلام د کشتۍ راغلو ناخدا
اوس مو هیڅه ویره نشته له دریا
نو بیا پوه شه منتظر یې په رېښتیا
چې د روح غذا کړې ذکر د اشنا
کړه طلب چې رحم هغه وکړي په تا

(محمد رحیم دراني)

ضرب المثالهای پشتو با ترجمه فارسی:

۱. چې څه کرې هغه به ریبې	چاه کن را چاه درپیش
۲. سپي ته ډوډۍ واچوه چې کوړې شي	دهان سگ را به لقمه ببند
۳. دنیا د ارټې منګوټې دي	دنیا همیشه به یک قرار نمي ماند
٤. مار چیلچلې له پړي هم ویریږي	مار گزیده از رسیمان مي ترسد
٥. څه چې په زړه کښې هغه د خُلې نه اوځي	هر چه در دل است از دهان بیرون مي اید
٦. خپل چې لرې شي نو هم پردي شي	از دل برود هر انکه از دیده برفت
٧. خوی بد بهانې ډېرې	دل عیار بهانه بسیار
٨. دا ګز او دا میدان	این گوی و این میدان
٩. له بارانه تښتیدم د ناوې لاندې مې شپه شوه	از باران زیر ناودان گریخت
١٠. اوبه چې له سره تیرې شي نو څه لیشت او څه نیزه	اب که از سر گذشت چه یک نیزه و چه یک بالشت
١١. خپل څادر سره پښې غزول پکار دي	پا را باید به اندازه گلیم دراز کرد
١٢. په پښتنه سړی کابل ته رسي	با پرسان مي شود چین بروي
١٣. هر ګل سره ازغي دي	کسي که گل مي خواهد باید منت خار بکشد
١٤. مار چې سوړې لره ورشي اخر سم شي	تا مار راست نه شود ، به سراخ نه رود
١٥. د ځان صفت کول غُل خوراک دي	تعریف خود کردن پنبه خائیدن است
١٦. توکلې لاړې خُلې له بیرته نه راځي	تیري که از کمان بیرون جست دیگر بر نمي گردد
١٧. اول طعام بیا کلام	اول طعام باز کلام
١٨. چې بد ګرځي بد به پرزي	چاه کن همیشه در چاه مي افتد
١٩. چې له کوم تالي وخورې په هغې کښې پښې مه ږده	جای که نمک خودري نمکدان مشکن
٢٠. په ډېرو قصابانو کښې غوا مرداریږي	خانه ای که دو کدبانو باشد خاک تا زانو باشد
٢١. اوده او مړ یو دی	خواب برادر مرگ است
٢٢. بدل په بدل روا دی	العین بالعین والسّنُ بالسن
٢٣. کور کښې دانه نه لري او په ژرنده وار نیسي	دري که نه داري دربان چه مي کني
٢٤. د صبر میوه خوږه وي	صبر مفتاح کارها است

Download From; Aghalibrary.com

۲۵. سختې پسې راحته وي	رنج بکش تا به گنج برسي
۲۶. پټ غل بادشاه دی	دزد ناگرفته پادشا است
۲۷. خر سپی د گیدړ ورور دی	سگ زرد برادر شغال است
۲۸. دیوالونه هم غوږونه لري	دیوار هم گوش دارد
۲۹. د بد اصل په دوستۍ سړی پښیمان شي	روح را صحبت ناجنس عذابست الیم
۳۰. په خوږه ژبه دښمن هم دوست شي	زبان خوش مار را از سراخ بیرون مي اورد
۳۱. زور په زور ماتیږي	سنگ را سنگ مي شکند
۳۲. د صبر میوه خوږه وي	صبر مفتاح کارها است
۳۳. سل دې و مره یو دې مه مره	صد نفر مثل یک نفر نه مي شود
۳۴. خر که تر مکې لاړ شي چې بیرته راشي هغه خر دی	الاغ اگر تا مکه هم برود باز هم الاغ است
۳۵. تور خر په صابون نه سپینیږي	الاغ سیاه با صابون سفید نمي شود
۳۶. د او سپنې چنې چیچل دي	راه باریک است و شب تاریک و منزل بس بعید
۳۷. د صبر کارونه د خیر وي	دیر اید درست اید
۳۸. چرگې له د سلائي داغ هم بس دی	در خانه مور شبنمي طوفان است
۳۹. د ترو باران کله کله وي	هر روز عید نیست که حلوا خورد کسي
۴۰. چې اجل یې راشي نو څه ورته بهانه شي	صید را چون اجل اید سوی صیاد رود

Download From; Aghalibrary.com